

سید جمال الدین افغاني او د افغانستان نومیالي

(طرزي، غبار، جاوید، فرهنګ او حبیبي)

لیکوال: فضل الرحمن فاضل

ژباړن: داکتر لطیف بهاند

سید جمال الدین افغاني

او د افغانستان نومیالي

سید جمال الدین افغاني

او د افغانستان نومیالي

(طرزي، غبار، جاوید، فرهنگ او حبیبي)

لیکوال: فضل الرحمن فاضل

ژباړن: ډاکټر لطیف بهاند



سید جمال الدین افغاني

او د افغانستان نومیالي

(طرزي، غبار، جاوید، فرهنګ او حبیبي)

لیکوال: فضل الرحمن فاضل

ژباړن: ډاکټر لطیف بهاند

بیا کتنه: زاهد جلالي

خپرندوی: مستقبل خپرندویه ټولنه

چاپ: لومړی، زر ټوکه، ۱۳۹۳ ل/ ۲۰۱۴ز، کابل، افغانستان



لومړی ادرس: کابل- کوټه سنګي- د سیلو د څلورم او پنځم سړک ترمنځ د شاداب ظفر بلاکونو ته مخامخ.

دویم ادرس: کابل- د دهمزنګ اول سړک- مرکز عمومي کتاب فروشي (محب زاده مارکیټ)

دریم ادرس: جوی شیر، د ناشرانو او کتاب پلورنځیو عمومی مرکز

مستقبل خپرندویه ټولنه

Email: moustaqble@gmail.com

موبایل شمیرې ۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰، ۰۷۸۶۶۳۰۷۳۱، ۰۷۷۸۸۷۰۳۰۵

ډالۍ

د «سید جمال الدین افغاني او د افغانستان نومیالي»

کتاب پښتو ژباړه، د هغه د لیکوال (فضل الرحمن فاضل) په مشوره، ځوان، هڅاند او دقیق څېړونکي: ښاغلي زاهد جلالي ته په دې تمه ډالۍ کېږي، چې دی، د دغه ناسپړلي خزانې (سید جمال الدین افغاني) د ژوند او پوهې، نور ناڅرګند رازونه راوسپړي.

په مینه

دوکتور لطیف بهاند

د پوهې او حکمت لټوونکي ډېر دي، خو پر هغو عمل کوونکي خورا لږ.
علامه سیدجمال الدین افغاني

لړلیک

د زاهد جلالي:

سریزه

سید جمال الدین افغاني په افغانستان کې زیږېدلی، دلته لوی شوی، زده کړې یې همدلته کړي او په دولتي پوستونو کې په دندو بوخت شوی، بیا نورې نړۍ ته وتلی او د لمر په څېر ځلېدلی، د همدغه ستر شخصیت وسپنیزه او عقلاني مبارزه وه چې نن په اسلامي نړۍ کې د ویښتابه حرکتونه رامنځ ته شوي او د اسلامي فکر ساتنه کوي، خو د افسوس خبره دا ده، چې له دې خاورې راپورته شوی علامه، موږ نن د نورو په قلمونو پېژنو او په خپله مو د هغه حق نه دی ادا کړی. خو داسې هم نه ده چې په دې خاوره کې هېڅ داسې لیکوال نه شته چې دغه ستره ستړه یې موږ ته راوپېژني. پخوا علامه حبیبي، رشتیا، افغاني او نورو لیکوالو د سید جمال الدین پر ژوند بنې څېړنې او کتابونه خپاره کړي وو.

په ۱۳۵۵ لمریز کال کې مرحوم محمد داوود خان د علامه سید جمال الدین افغاني په اړه سیمینار رابللی و او په همدغه کال د افغان لیکوالو او څېړونکي درځن کتابونه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا خپاره شوي وو. په دغو څېړنو کې واقعا ډېر اوچت کتابونه موندل کېدای شي. د علامه حبیبي کوچنی کتاب «نسب و زادگاه سید جمال الدین الافغاني» ډېره اعلی څېړنه او مهم کتاب دی.

خو په هېواد کې د کمونېستي انقلاب له راتلو سره، دغه بهیر ډېر کمزوری شو، بلکې په ټپه ودردېد. په دغه وخت کې د علامه سید په اړه ځینې کتابونه د مهاجرت په سختو شېبو کې راژباړل شوي دي، خو د لیکل شوو کتابونو او څېړنو شمېر به د نشت معادل وي.

اوسمهال د سید په اړه په افغان لیکوالو کې استاد فضل الرحمن فاضل هغه څوک دی چې ده لږ تر لږه خپله غاړه خلاصه کړې او د سید په اړه یې مهمې مقالې او څېړنې ترسره کړې، چې د دغو څېړنو مجموعه د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا د یوه کتاب په شکل د «بیدارگر عصر» په نامه خپور شوی. د استاد فاضل قلم دې الله تعالی همداسې کښاند لري، د علامه غیر افغانو مینه والو ته یې زموږ سترگې اوچتې کړې دي.

د علامه سید جمال الدین په اړه د افغان لیکوالو نظر او د دوی تبصرې، د دغه کتاب یوه برخه ده. دا ډېره مهمه لیکنه ده، ځکه موږ عموما پر نورو لیکوالو او مصادرو اتکار کړې، خو کورنیو لیکوالو ته کومه ځانگړې پاملرنه نه ده کړې. فاضل صاحب ښه باب پرانیستی دی او له دې وروسته باید نور افغان لیکوال د سید په افغاني مطبوعاتو کې، د افغان څېړونکو او مفکرینو د کتابونو مخکتنه او نورو مهمو افغاني مسایلو باندې لیکل وکړي.

د استاد فاضل د دې څېړنې اهمیت هغه وخت لا ډېر د پام وړ گرځي، چې د مرحوم طرزي صاحب د لیکنې په څېر شکمنوونکې لیکنه په کې ځواب شوې. دې کې شک نه شته چې د طرزي صاحب لیکنه به ډېری لوستونکي، په ځانگړې توگه ځوانان، ډېر اندېښمن او متزلزل کړي، خو چې د فاضل صاحب معقول رد ولوستل شي، شکونه او ابهامات په کې ډېر ښه ځوابېږي.

د علامه سید جمال الدین افغاني په اړه مې د ځینو معاصرو افغان پوهاندانو مقالې و کتابونه لوستي، خو له مبالغې پرته او په جرئت وایم، چې استاد فاضل چې نه پوهنیار دی او نه پوهندوی، تر ځینو پوهاندانو یې ښې څېړنې کړي، چې دی یې اوسمهال د علامه افغاني په اړه د گوتو په شمار افغان څېړونکو په کتار کې درولی او حق یې دی چې «علامه پېژندونکی» یې وبولو.

د سید جمال الدین په اړه د استاد فاضل د څېړنو دغه مهمه برخه، افغان ډیپلومات ډاکټر صاحب لطیف بهاند پښتو کړې. بهاند صاحب په ژباړه کې ښه برلاسی دی، ده د روسي معروف لیکوال «لیو تولستوی» مشهور کتاب «سوله او جګړه» راپښتو کړي، نو طبیعي ده چې د دغه ستر ژباړن دا ژباړه هم د نورو په څېر اعلی او له ستونزو خالي ده.

له ښاغلي ډاکټر بهاند صاحب څخه زښته ډېره مننه چې له استاد فاضل سره یې په مشورې، دا کتاب زما په نامه ډالۍ کړ. له دغو دواړو افغاني ستیو ډېره مننه چې د ځوانانو د هڅولو احساس ورسره شته.

که څه هم ما کتاب چاپ ته لېږلی و، خو چې بهاند صاحب ډالۍ ولیکله او لوریینه یې وکړه، ما کتاب کې د هغه ډالۍ اضافه کړه او بیا مې خپرندوی ته واستاوه.

د بیا کتنې چارې چې د استاد فاضل له خوا ما ته سپارل شوې وې، په ډېر احتیاط سره مې تر سره کړې، په ځینو ځایونو کې چې جملې او پرګرافونه به مبهم وو، له اصل سره مې پر تله کړي او بیا مې مفهوم په ساده او واضحو الفاظو لیکلی.

په دې هیله چې استاد فاضل د ستر شخصیت، علامه سید جمال الدین په اړه خپلو څېړنو ته دوام ورکړي، ډاکټر بهاند خپلو اوچتو څېړنو او ژباړو کې دغسې تاند وي او دغه څېړنه نور افغان محققین د افغاني د ژوند نورو برخو کې څېړنو ته وهڅوي.

زاهد جلالي
۲۸/میزان/۱۳۹۳
کابل، افغانستان



محمود طرزي

محمود طرزي

په افغانستان کې کیدای شي تر ټولو پخوانی سند چې په هغه کې د سید جمال الدین افغانی یادونه شوې ده، د خدای بښلي محمود طرزي په مدیریت د سراج الاخبار جریده وي. د هغې جریدې د شپږم کال په درېیمه ګڼه (د ١٢٩٥ لمریز کال د وږي د میاشتې په ٢٢ مه نېټې چې د ١٩١٦کال د سپتمبر له ١٣ مه سره برابره ده)، د سید جمال الدین افغاني په اړه، د سلطان محمد خان کابلي (١) هغه مقاله خپره شوې ده چې د «الهلال″ له مجلې نه، فارسي ژبې ته راژباړل شوې ده.

د ″الهلال″ د مجلې په اړه باید یادونه وشي چې د مصر، د علمي ادبي مجلو، له خورا پیژندل شویو مجلو نه وه. دا مجله مشهور عرب لیکوال او مورخ، جرجي زیدان، په ١٨٩٢ کال په قاهره کې تاسیس کړه.

ده تر خپل مرګه (١٩١۴م) پورې دا خپرونه وچلوله. د هغه له مرګه وروسته د هغه زامنو (امیل زیدان او شکري زیدان) د خپل پلار لارې ته ادامه ورکړه.

زه فکر کوم چې د سیدجمال الدین په اړه چې کومه مقاله سلطان محمد کابلي ژباړلې ده، د «خاطرات سید جمال الدین افغانی - آراء و افکار″ د کتاب لیکوال، محمد مخزومي لیکلې او بیا یې جرجي زیدان ته په «الهلال» مجله کې د نشر په خاطر ورلیږلې ده. محمد مخزومي، بیا د خپل کتاب په پنځه ویشتم مخ کې په ګیله منه ژبه، یادونه کوي چې جرجي زیدان، د سید جمال الدین د ژوند لیک یوه برخه خپره کړې ده او د مقالې د ځینو برخو له خپرولو یې ډډه کړې.

شیخ محمد رشید رضا هم په خپل کتاب «تاریخ الاستاذ الامام» کې د «الهلال» مجلې له خوا، د سید جمال الدين د ژوند یادونه کړې، خو د هغې د خپرېدو نېټه یې یاده کړې نه ده.

دغه راز جرجي زیدان یو بل پېژندل شوی کتاب هم لري دا کتاب «مشاهیر الشرق» نومېږي او په دغه کتاب کې هم د سید ژوند لیک خپور شوی دی.

په هر حال، هغه څه چې دلته د یادولو وړ دي، هغه د سلطان محمد کابلي پر ژباړې د محمود طرزي تبصره ده. دا تبصره، د مقالې تر خپرېدو یوه میاشت وروسته محمود طرزي د سراج الاخبار د شپږم کال، په پنځمه ګڼه کې چاپ کړې ده. خدای بښلی محمود طرزي لیکي:

... د سراج الاخبار افغانیه، د شپږم کال په درېیمه ګڼه کې، د ختیځ د پېژندل شوي علامه -السید جمال الدين افغاني- ژوندلیک، چې زموږ یوه فاضل او ګران هیوادوال لیکلی دی، د خپرېدو وياړ موندلی دی. په پای کې مو وعده کړې وه چې په راتلونکې ګڼه کې به خپله سراج الاخبارافغانیه هم هغه څه چې په دې اړه یې لري، خپلو ګرانو کرامو لوستونکو ته وړاندې کوي. دا دی د خپلې وعدې د پوره کولو لپاره وایو چې خپله دا مدیر او دا عاجز سرمحرر، په خپله له جناب مشارالیه [سید جمال الدين] سره له دوو پلوو پيژندګلوي لرم. یو خو هغه څه چې د هغه په اړه مې اورېدلي دي او بل هغه چې د هغه په اړه مې لیدلي دي، خو زما اورېدلي (شنیده کی بود مانند دیده) هم باید اوریدل ونه ګڼل شي، ځکه د هغو اوریدلو دریځ او شرف او اعتبار، دلیدو په شان موثقه او معتبره دي.

که ووایم چې ما عاجز، د جناب علامه نوم، د خپل لومړنی لیک لوست له وخته زده کړی او پر ژبه مې تکرار کړی دی، هېڅ مبالغه به مې کړې نه وي...او هغه له دې امله چې زما ماجد او مغفور والد -حضرت طرزي- یو غرا مدحیي قصیده، د دغه جناب مشار الیه [سید جمال الدين] په ستاینه کې انشاد کړې وه او د هغه د شعرونو په کلیاتو کې -چې د ژوند اوبه دي- نغښتې ده...

خدای بښلي محمود طرزي، بیا د - نسیم صبح در گلشن وزید از جانب صحرا - قصیدې ته اشاره کوي او د هغې د ځینو بیتونو په یادولو سره، لیکي: «... از کلیات حضرت طرزي، مطبوعه کراچي، از قسم قصاید، صحیفه ۷۱، در کلیات مطبوع، اگر چه سید جلال الدین چاپ شده، اما در اصل سید جمال الدین است.»

خدای بښلی محمود طرزي، د خپلې همدې گټورې مقالې په دوام کې، د میرزا رضا کرماني، د ناصرالدین شاه د قاتل، د ابوالهدی د حالات، چې سید هغه د ابوالضلال په نامه یاد کړی دی، د سید، د تداوی، ناروغۍ او مرگ یادونه کوي.

د سید په اړه د محمود طرزي له مقالې نه ښکلا، درناوي او عزت اوربړي او ځان د سید د پلویانو او ارادتمنوانو له ډلې نه یو تن گڼي، که څه هم پوهاند سید سعد الدین هاشمي، د خدای بښلي عبد الهادي داوي له خولې، لیکي: «که څه هم محمود طرزي د سید جمال الدین افغاني د شاگردۍ ویاړ درلود، خو د سید جمال الدین په اړه یې نیک او مساعد نظر نه درلود.» (۹) د سید په اړه د افغانستان په مطبوعاتو کې د لومړنۍ مقالې په توگه، د خدای بښلي محمود طرزي، د مقالې عالي محتوا ته په پام سره سره، په هیواد کې د مطبوعاتو د برخې یوه غوره مخکښ ته، په ډېر او لوړ درناوي، د نوموړي پر مقالې د تبصرې په توگه، دا لاندې حقایق د یادونې وړ گڼم:

۱- دا چې خدای بښلی محمود طرزي وایي چې سید جمال الدین د امیر محمد اعظم خان د واکمنۍ پر وخت افغانستان ته راغلی دی، له هغو اسناد سره چې اوس له موږ سره شته، د محمود طرزي خبرې دقیقې نه برېښي. ځکه سید جمال الدین په ۱۲۸۳ قمري کال، د امیر محمد افضل خان په وخت کې، د «مرآة العارفین في ملتمس زین العابدین" په نامه یوه رساله په کندهار کې لیکلې ده او ټول په دې پوهیږي چې د امیر محمد افضل خان واکمني، د امیر محمد اعظم خان تر پادشاهۍ تر مخې ده.

۲- محمود طرزي وایي چې سید جمال الدین په افغانستان کې د «رومي» په نامه مشهور و، نه په «افغاني». په داسې حال کې چې سید جمال الدین په ۱۲۸۳ قمري کې د «مرآة العارفین» رسالې په پای کې، «کتبه عبدالله جمال الدین الافغاني

الکابلي...» لیکلي. دلته نه یوازې دا چې د «رومي» نښه نه شته او د امیر محمد اعظم تر واکمنۍ مخکې سید جمال الدین نه یوازې ځان «افغاني» بلکې «کابلي» هم ګڼلی دی.

۳- محمود طرزي، د هغه سند له مخې چې د سید په قلم لیکل شوی دی او ځان ته یې «د کنړ دساداتو له جملې څخه» (من سادات کنر) ویلي دي، خبر نه دی، کنه داسې به یې ویلي نه وو. ځکه دا اسناد د مرحوم طرزي، په وخت کې خپاره شوي نه و.

۴- موږ خو را مخور خلک لرو چې خپل نومونه یې اړولي. سره له دې چې د سیمې خلک هغه په دقیقه توګه پیژني، خو پر هغه نور نومونه ږدي. د ساري په توګه میر سید خان العلوي، چې په قاهره کې د شیخ رواق الافغان، په نامه مشهور دی. هغه د ۱۳۴۸ لمریز کال د جدي پر ۱۴ چې د ۱۹۷۰ کال د جنوري له ۴ مې سره برابره ده، په قاهره کې مړ شوی دی. دی اصلاً د کوهدامن د فرهاد د کلي اوسېدونکی دی. هغه په خپل کلي او سیمه کې د شیخ مصري په نامه شهرت درلود. او علت یې دا دی چې میر سید خان العلوي، یا شیخ رواق الافغان په مصر کې تحصیل کړی دی او همالته په مصر کې یې استوګنه درلوده.

بل مشهور شخصیت هم مولوي سید هدایت الله، د تخار د چاه اب اوسېدونکی و. هغه د تره کي د واکمنۍ پر وخت شهید شوی دی او په خپله مینه «چاه آب» کې د مولوي کابلي په نامه شهرت موندلی دی.

۵- زموږ ځینو هېوادوالو د خدای بښلي سید جمال الدین له خولې نه د «پدرسوخته» ترکیب، چې محمود طرزي نقل کړی دی، د سید د ایرانی والي نښه ګڼلې ده. زما په اند پر دې دلیل اتکا نه شي کیدای. د مثال په توګه په جرمني کې چې زموږ وطنداران په هره ژبه خبرې کوي، زموږ هدف ټولې ژبې: ازبکي، بلوچي، پښتو، فارسي او... دي، بانکي شمیرې ته «کونتو نمبر» وایي او د کتنې وخت ته، «ترمین» وایي چې د کوربه ژبې اغېز دی. په تېره بیا هغه کلمې چې زیاتې کارول کېږي او زموږ ایراني ګاونډیان هم د «پدرسوخته» اصطلاح ډېره کاروي او آن زما

سیمه وال -د بدخشان خلک- او په ځانګړي توګه د درواز د ولسوالی خلک چې په ایران کې یې زیاته موده فزیکي کارونه کړي وي، د «پدر سوخته» مشهوره اصطلاح یې تل پر ژبه ګرځي.


بله بېلګه یې په سعودي عربستان کې، زموږ عادي کارګر هېوادوال دي، چې په خپل منځ کې سره غږېږي، د «موتر د کلی» پر ځای «مفتاح سیاره» وایي. نو پر همدې اساس سید جمال الدین هم چې یو څه وخت یې په ایران کې تېر کړی دی، که موږ د هغه له خوا د «پدر سوخته» د عبارت کارول، د نورو د لایلو تر څنګ، د هغه د ایران توب لپاره وکاروو، بو بې بنیاده دلیل به وي.

٦- محمود طرزي خپله د خپل پلار غلام محمد طرزي او سید جمال الدین تر منځ د «خورا صمیمي آشنایۍ او ملګرتوب» یادونه کوي، چې هرو مرو د امیر دوست محمد خان او د هغه د اعقابو، په وخت کې، د هغو دوو تنو اشنایي ته رسي. ځکه غلام محمد خان طرزي، د امیر دوست محمد خان په دربار کې د «ارجمند دانشمند» لقب درلود. او هماغه شان چې ویل شوي دي، سید هم د هرات په جګړه کې د امیر دوست محمد خان همرکابه و.

٧- آن، محمود طرزي هم د سراج الاخبار په همدې مقاله کې لیکلي دي چې: «که ووایم چې دې عاجز، د جناب علامه نوم، له هماغه وخته، چې په لس کلنۍ کې د فارسی لوستل او لیکل زده کړي دي، پر ژبه ګرځولی دی، هېڅ مبالغه به مې کړې نه وي...» نو له دې کبله محمود طرزي چې په ۱۳۸۲ هجري قمري کال کې چې له ۱۸٦۵ کال سره سمون خوري، په غزني کې زېږېدلی، که یې په لس کلنې کې د فارسي ژبې لیک لوست زده کړی وي، د سید جمال الدین له نامه سره تر ۱۸۷۵ کاله مخکې آشنایي لرلې ده او دا آشنایي له ۱۸۷۵ کاله مخکې زمانو ته رسېږي.

۸- محمود طرزي، هغې قصیدې ته چې په کې د «نه ماه روم و شامستي» په نامه د سید جمال الدین په ستاینه کې ویل شوې ده، اشاره کوي او د هغه پر رومي والي ټینګار شوی دی.(۱۱)

محمود طرزي، ان تر دې هم وړاندې تللی او د سلطان عبدالعزیز خان په ستاینه کې یې د خپل پلار «طلوعیه» نومې قصیدې په اړه وایي: «... د هغه له ځینو بیتونو نه چې د سید تصویر انځوروي، په صریحه او څرګنده د مشار الیه رومي والي عیانیږي!» هغه چې پورته مې د هغه «پر رومي والي″ تبصره کړې وه. خو د دې بیت: «نه ماه روم و شامستي» په اړه باید ووایم چې د مرحوم غلام محمد طرزي په دیوان کې د یاد شوي بیت پر ځای دا بیت: «نه ماه مصر و شامستي...» راغلی دی.(۱۲)



میر غلام محمد غبار

میر غلام محمد غبار

د هیواد د نومیالیو له ډلې، یوه بل تن چې د سید جمال الدین په اړه یې لیکنې کړې دي، خدای بښلی میر غلام محمد غبار دی. هغه په خپل غوره درووند وزني کتاب «افغانستان در مسیر تاریخ» کې سید جمال الدین پر ۱۸۳۸میلادي (۱۳) د کنر د اسعد آباد زوکړی ګڼي. او وایي چې پر ۱۸۵۷ کال کې د دوست محمد خان له دربار سره یو ځای شوی دی.

خدای بښلی غبار، په افغانستان او نورو هیوادونو کې، د سیدجمال الدین د کړو وړو د لنډې یادونې وروسته لیکي:

«...دغه راز سید په هند، مصر او ترکیه کې نوی سیاسي غورځنګونه رامنځ ته کړل. بالاخره دغه ستر افغان د ۱۸۹٦ کال د مارچ په نهمه، د خناق د ناروغۍ او د یوه شبهه ناک داکتر تر تداوۍ وروسته، د ۵۸ کالو په عمر په استانبول کې مړ شوی دی. هغه د ګڼ شمیر ترکانو له خوا، د شیوخ په ادیره کې، په خورا درناوي خاورو ته سپارل شوی دی. په داسې حال کې چې د خلکو د ګڼه ګوڼې له امله د ځنازې اتلس بدرګه کوونکي هم تر پښو لاندې مړه شوي دي″ (۱۴)

په یاد شوي متن کې د ۵۸ کلنۍ قرینې ته په پام، دا اټکل کېږي چې ۱۸۹٦میلادي کال، چې خدای بښلی غبار، هغه د سید د مړینې کال ګڼي، یوه چاپي تیروتنه وي، له امکانه لرې خبره ده. خو د سید جمال الدین د مرګ دقیقه نیټه د ۱۸۹۷ میلادي کال د مارچ نهمه، د سه شنبې ورځ، چې د ۱۳۱۴ قمري کال د شوال المکرم له پنځمې سره برابره ده، ده. او د خدای بښلي غبار د لیکنې په روایت ستر استاد عبدالحي آرینپور ولوالجي، په خپل نوښتګر اثر «تاریخ منظوم افغانستان نوین

در آیینه شعر» کې، هم همدا ۱۸۹٦ کال یاد کړی دی. (۱۵) خو شیخ محمد رشید رضا، د شیخ محمد عبده، شاگرد چې د سید جمال الدین ژوند لیک د خپل استاد د معلوماتو پر بنسټ لیکلی دی او هغه یې پر ۱۹۳۱ کال خپور کړې دی، د «المويد» د اونیزې خپرونې، په حواله، دغه خپره شوې گڼه، د ۱۸۹۷ کال د مارچ په څوارلسمه، چې د شوال له لسمې سره برابره ده، یعنې د سید جمال الدین تر مرگه پنځې ورځې وروسته لیکي:

«د عالیه آستانه، نه را رسېدلي خبرونه وایي چې فاضل استاد، فیلسوف، مغفور شهیر السید جمال الدین افغاني مړ شوی دی. هغه خدای ببنلی د شوال په پنځمه، د مارچ په نهمه د سه شنبې د ورځې د سهار په اوو بجو او دیارلسو دقیقو...مړ شو.» (۱٦)

هغه شان چې پورته یادونه وشوه، خدای ببنلي غبار په خپل درونډ وزني کتاب کې، چې د سید له مرگه اویا کاله وروسته خپور شوی دی، د سید په جنازه کې د ترکیې خلکو د زیات شمېر گڼه گوڼې، د گډون خبرې کوي او آن په جنازه کې د ۱۸ تنو گډونکوونکو د مرگ یادونه هم کوي، خو د مصر «المقطم» د خپرونې د خبر له مخې، چې د مارچ په ۱۸ مه، د سید تر مړینې ۹ ورځې وروسته، خپره شوې ده، هغه هم هغه خبر چې له آستانې، د عثماني امپراتوري له پلازمینې نه د راغلي لیک پر بنسټ دی. په هغه خبر کې یادونه شوې ده چې، د سید د مرگ پر وخت، له هغه سره یوازې یوازې د هغه خدمتگار حاضر و او په جنازه کې، د هغه یوشمیر لږو دوستانو گډون کړی و. او ددې لپاره چې خلک خبر نه شي، هغه یې د سهار په لسو بجو، په استانبول د «شیخلر مزار لغي» ـ شیخانو پورې اړونده ادیره ـ کې خاورو ته وسپاره. (۱۷)

آن امریکاي مشهوره څېړونکې مېرمنNikki R Keddic ، په خپل تحقیقی اثر - د سید جمال الدین افغاني سیاسي ژوندلیک ـ کې لیکلي دي، د سید د مرگ په شیبه کې یوازې د هغه مسیحي خادم ورسره و.(۱۸)



پوهاند عبد الاحمد جاوید

پوهاند عبد الاحمد جاوید

د افغانستان د نومیالیو له ډلې، خدای بښلی آکادیمسین پوهاند عبد الاحمد جاوید (۱۹۲۷- ۲۰۰۲) د سید جمال الدین افغاني په اړه، په یوه مقاله کې چې د «چند نکتهء تازه در باره سید جمال الدین افغانی» تر سرلیک لاندې یې، د آریانا برون مرزي، مجلې د ۱۳۷۹ لمریز کال د درییمې ګڼې په مني کې، خپره کړې ده لیکي:

«بالاخره پر کال ۱۸۷۹ کې یې مصر پرېښود او هند ته راغی. انګلیسانو د هغه د کړو وړو څارنه کوله. د کلکتې، په - البرت هال - کې یې چې کله وینا کوله، د هغه وینا د پولیس په اشاره بنده کړل شوه په دې وخت کې مو لانا ابو کلام آزاد ځوان محصل و او د سید، وینا یې اورېدلې، ده له همدې امله هغه وار وار، په خپلو لیکنو کې، د هند د خلکو په ویښتیا کې د سید د افکارو د اغیز یادونه کوي.»(۱۹)

په دې کې هیڅ شک نشته چې سید جمال الدین، په ۱۸۷۹ میلادي کال کې مصر پرېښود او که په توجه سره ووایو، له مصره ووېستل شو او بېرته هند ته راغی. هغه هم د کراچۍ د بندر له لارې او هغه، له وخت سره هممهاله دی، چې په کابل کې - کیوناري – ووژل شو. او لکه هغه شان چې خدای بښلي پوهاند جاوید یادونه کړې ده، سید د کلکتې په «البرت هال» کې وینا کړې او له پاتې شویو آثارو نه دا څرګندېږي چې د سید جمال الدین وینا به، د - ښووني او زده کړې – په اړه وه.

استاد خسرو شاهي، د «رسایل و مقالات» د مجموعې په ۱۲۷ مخ کې لیکي، د سید وینا د کلکتې په «البرت هال کې» د ۱۸۷۲میلادي کال د نوامبر په اتمه، د پنجشنبې په ورځ، اورول شوې ده، خو زما په اند د خسرو شاهي دا خبره یوه تېروتنه ده، ځکه چې، سید جمال الدین په ۱۸۷۲ کال په قاهره کې و، نه په کلکته کې. (۲۰)

او د غوره کتاب: «تقویم تطبیقی هزار و پانصد ساله هجری قمری و میلادی» د حساب له مخې، د ۱۸۷۲ میلادي کال د نوامبر ۸، د جمعې ورځ ده، نه د پنجشنبې. (۲۱) دغه راز د دې احتمال خورا لږ دی چې د سید وینا دې، لکه هغه شان استاد جاوید لیکلي دي، پر ۱۸۷۹ میلادي کال کې تر سره شوې وي. کراچۍ ته د سید راتګ، د سپتمبر په میاشت کې د هغه له خپلو لیکنو نه څرګندېږي، خو استاد پوهاند عبدالحي حبیبي په خپل څېړنیز کتاب: «نسب و زادگاه سیدجمال الدین الافغانی» د کرونولوژۍ په برخه کې، د کلکتې په البرت هال کې د جمال الدین د وینا نېټه: (د ۱۸۸۳ میلادي کال د نوامبر ۸ – د ۱۳۰۱کال د محرم ۷) ثبتوي، خو د سید د وینا موضوع د - د روزنې او ښوونکي - په نامه یادوي. کېدای شي، دا یو چاپي تېروتنه وي. دا ځکه چې د سید د وینا متن اوس شته او هغه «تعلیم او تعلم» نومیږي. (۲۲)

یاد شوي تقویم ته په پام سره، په ډاګه څرګندېږي چې د ۱۸۸۳ میلادي کال د نوامبر ۸، د پنجشنبې ورځ د ۱۳۰۱ قمري کال د محرم الحرام له ۷ نیټې سره برابره ده. ځکه د ۱۸۸۳ م کال د نوامبر دویمه د جمعې ورځ او د ۱۳۰۱ قمري کال د محرم الحرام له لومړۍ نېټې سره برابره ده.(۲۳)

دغې قرینې ته په پام سره، د پنجشنبې ورځ د نوامبر اتمه د خسرو شاهي په لیکنه کې، د پوهاند عبد الحی حبیبي نظر د وینا د اورولو د نېټې په اړه حقیقت ته نږدې (قرین صواب) برېښي. (۲۴) ځکه دا منطقي نه برېښي چې سید دې له مصره، هند ته د رارسېدو سره سم، دومره مخور وي چې د هند، په البرت هال کې دې، هغه ته د وینا کولو بلنه ورکړل شي. ۱۸۸۳ میلادي کال ، په دې دلیل منطقي برېښي چې سید تر هغې وینا د مخه، د «نیچریه» یا «الرد علی الدهریین» رساله لیکلې، د «معلم شفیق» په مجله کې خپره شوې. او که د بلنت Bulnt نظر سم وي، تر هغه نه شپږ میاشتې مخکې، سید امریکا ته هم سفر لرلی دی او بیا احتمالا د لندن له لارې، بېرته هند ته راغلی دی او د "عرابي پاشا" د انقلاب له امله، دوه کاله مخکې هم کلکتې ته احضار شوی دی. د ۱۸۷۹ کال په پرتله چې سید، په مصر کې تر اته کلنې استوګنې وروسته، هند ته راستون شوی دی، دغو دلایلو ته په پام سره، پر ۱۸۸۳ میلادي کال، هغه په هند کې، په یوې پېژندل شوې څېرې بدل شوی دی.

خو د خدای بښلي پوهاند جاوید په لیکنو کې دا ټکې چې د کلکتې په البرت هال کې دې، د سید جمال الدین افغاني د وینا د اورېدونکو په ډله کې د مولانا آزاد، حضور ولري، هم د بحث وړ دی. درې واړوو روایاتو ته په پام سره، ۱۸۷۲ (استاد خسرو شاهي او دوکتور سید مخدوم رهین) ۱۸۷۹(پوهاند جاوید) ۱۸۸۳ (علامه حبیبي) دقیق نه دي. په دې دلیل دقیق نه دي چې ابو الکلام آزاد په خپل قلم، خپله لیکي چې هغه د ۱۳۰۵ قمري کال په ذوالحجې یعنې، په ۱۸۸۸ میلادي کال کې پیدا شوی دی. دغو درې واړو روایاتو ته په پام سره، ابوکلام ازاد، اصلاً په دې نیټه لا پیدا شوی نه دی، دا لا څه چې هغه زلمی وي، محصل او د سید د وینا اورېدونکی. په تیره بیا که دا معلومات هم ورزیات کړو چې ابوالکلام آزاد په ۱۸۸۸ میلادي کال کې په مکه مکرمه کې پیدا شوی دی، نه د هند په خاوره کې. هغه په ۱۸۹۸ کال، یعني د سید جمال الدین افغاني تر مرګه یو کال وروسته، له خپل دانشمند پلار مولوی خیر الدین سره، هندوستان ته راغلی دی. په دې ټولو کې یوازې دغه خبره سمه او رښتیا ده چې ابوالکلام آزاد، له مکې مکرمې نه تر راستنیدو وروسته، په داسې عمر چې لس یوولس کلن و، او سید جمال الدین هم په استانبول کې مړ شوی و، پلار او زوی، په کلکته کې میشت شوي دي، خو دا باید هېر نه کړو چې مولانا ازاد په هغو مجلو کې چې دی یې مسوولیت درلود، لکه: الهلال او البلاغ، د سید جمال الدین آثار او افکار، خپاره کړي دي.(۲۵)

خدای بښلی پوهاند جاوید، د خپلې هغې مقالې په دویمه برخه کې، چې د اریانا برونمرزي د مجلې، د ۱۹۷۹ لمریز کال د ژمي په څلورمه ګڼه کې، د پوهاند رسول رهین په مسوولیت خپره شوې ده، د خپلې مقالې په پای کې او تر حسن ختام مخکې، چې د سید جمال الدین په اړه د استاد خلیل الله خلیلي (۱۹۰۷ - ۱۹۸۷ م) شعر دي، د «یاد آوري» فرعي سرلیک لاندې لیکي:

«له پنځوسو کلو څه زیات، وړاندې، د تحصیل پر وخت له نومیالي ادیب سرور ګویا اعتمادي، سره مل د استاد محیط طباطبایي خدمت ته ورغلي وو. ځومره مې چې یادېږي، استاد محیط د سید جمال الدین پاسپورت چې د ناصرالدین شاه قاجار په امر د کوم ماموریت د سرته رسولو لپاره صادر او تازه د مرحوم طباطبایی تر لاسه

شوی و، حاضرینو ته ور وښوده. خدای بښلي ګویا اعتمادي، هغو وکوت او د هغه اصالت یې تصدیق کړ. د دغه پاسپورت عکس په مطبوعاتو کې هم خپور شوی دی.» (۲٦)

مرحوم استاد جاوید پر خپلې دې یادونې، تبصره کړې نه ده او کېدای شي په دې اړه یې د نظر څرګندونه، لوستونکو ته پرېښې وي، خو په دې کې هېڅ شک نه شته، چې د استاد محیط طباطبایي ټول «هم او غم» لکه هغه شان د هغه له نورو لیکنو معلومېږي، د سید جمال الدین، ایراني ثابتول دی.

د خدای بښلي پروفیسور دوکتور عبد الاحمد جاوید د خبرې د توثیق او د دې خبرې د ثابتولو لپآره چې د مرحوم محمد محیط طباطبایي ټول «هم او غم» د سید جمال الدین ایراني ثابتول دي، د هغه مرحوم د «سید جمال الدین اسد آبادي و بیداري مشرق زمین» تر سر لیک لاندې اثر ته، چې د سید جمال الدین د پاسپورت داستان هم په کې راغلی دی، مراجعه او بیا پر هغه تبصره کوو. په هغه کتاب کې راغلي دي:

«په ۱۳۲٦ لمریز کال (۲۷) کې چې کله له استانبوله، کابل ته د سید د اړوکو خبره راپیدا شوه او د سید د اړوکو د سرنوشت د ټاکنې لپاره د یوه اساسي او جدي اقدام په برخه کې، د تهران د علم او ادب څېنو مخورو بې خبری یا غفلت د دولت لاس او پښې سست کړي وو، زه، مجبوراً دې ته اړ وتم چې په دې برخه کې پلټنې پیل کړم. د غوره اټکل او څیرتوب او یو شمیر قراینو په مرسته چې د لومړي وزیر د دفتر له پخواني کارمند، خدای بښلي وثیق نه مې اورېدلي وو، نو د دغې ناڅرګندې خزانې په لټه مې، د شورې د مجلس نماینده او دویم امین الضرب مشر زوی، جناب ښاغلي مهدوي ته مراجعه وکړه، خو کومه پایله مې تر لاسه نه کړه. د هغه خدای بښلي بل زوي، جناب دوکتور یحیي مهدوي چې هماغه ورځ د مشر ورور کره حضور درلود، داسې تصور وکړ چې کېدای شي دغه څه، دغه منظور او هدف، کېدای شي، د اسنادو په بې شمیره صندوقونو او د دوي د نیکه د سوداګرۍ په دفترونو کې، چې له کلونو راهیسې، د نیکه د صندوقونو په تحویلخانه کې ور تېرلي پاتې دي. په هغو کې

باید ولټول شي او پیدا شي. هغه دا وویل او خپله لاړ. دا چې په دې کار کې، له غوره نیته کار اخیستل شوی و، د لومړني صندوق، د سر په خلاصیدو سره، د سید د پاڼو کڅوړه چې زما موخه وه او بیا د هغه نور اړونده اسناد او کتابونه لاس ته راغلل. د هغه د وروستۍ تذکره پاڼې چې په «ویانا» کې صادره شوې وه او د هغه په لاسي کڅوړه کې وه، او بیا وروسته د تهران مصور مجله کې خپره شوه. او هماغه کټ مټ په ۱۳۲۷ کال، افغان شاعر سرور گویا او افغاني محصل جاوید (پوهاند جاوید - ف) او په ۱۳۲۹ کال په علیگر کې دوکتور هادی حسن او شیخ عبدالغفار، هندي مسلمانانو ته چې د سید جمال الدین د ژوند لیک خورا غوره پېژندونکي وو او په ۱۳۳۱ کال کې، په دمشق کې، د سید پخواني شامي شاگرد عبدالقادر مغربي ته وروښودل شوه. او پر ۱۳۴۰ کال کې هغه بېرته له اسنادو سره یو ځای شوه. (۲۸)

استاد محیط طباطبایي د دغو اسنادو تصویرونه، د یاد شوي اثر په ۲۳۰ او ۲۳۱ مخونو کې خپاره کړي دي، چې زه به یې هم د لوستونکو د کتنې لپاره د دغې رسالې په پای کې درج کړم.

لومړني تصویر، د هغې تذکرې دی چې پر ۱۸۸۹ کال په ویانا کې د ایران له قونسلۍ نه صادره شوې ده. په دې تذکره کې سید د خپلو ټولو پخوانیو لاسلیکونو پر خلاف، په خپل لاسلیک کې «شیخ جمال الدین الحسیني» لیکلي دي. یعني د «شیخ» کلمه یې د خپل لاسلیک یوه برخه کړې ده، چې دغه دود په لاسیلیکونو کې نه شته. د مثال په توگه، پروفیسور برهان الدین رباني او یا پروفیسور مجددي چې کله لاسلیک کوي، د پروفیسور کلمه، د خپل لاسلیک یوه برخه کړې! یا امام خمیني چې کله لاسلیک وکړي، خپل لاسیلیک ته، د امام کلمه ورزیاته کړي! دغه راز آیت الله سید علی خامنه ای په خپل لاسیک کې «آیت الله یا ولی فقیه» ورزیاته کړې ده! دا یو غیر معمولي کار دی او یا هم خپله استاد محیط طباطبایي، په خپله ځانته استاد وواییي او د استاد کلمه د خپل لاسلیک سره مل کړي!!

د تذکرې دویم تصویر، هغه دی چې د «باش شهبندریه دولت علیه ایران در مصر» نه، صادره شوې ده. متن یې په ترکي عثماني ژبه دی او د هغه د خاوند د نامه

په ځای کې په عربي لیکل شوي دي «السید المحترم جمال الدين متوجه الی اسلامبول» دا په دې معنی چې ښاغلی محترم جمال الدين استانبول ته روان دی. او د پاڼې په پای کې پر مهر، د هغه د صادرېدو نېټه داسې لیکل شوې ده:

«فی یوم السبت ۱۳ جمادی الاولی ۱۲۸۸» یعني د ۱۲۸۸ قمري کال د جمادی الاولي ۱۳ د شنبې ورځ.

د دغه پاسپورت نېټه څو ستونزې لري، چې په دې ډول خبرې پرې کوو:

۱- د دوو الماني پوهانو، فردیناند وستفیلد او ادوارد ماهلر د دقیق او ارزښتمنده اثر «تقویم تطبیقي هزار وپانصد ساله هجري قمري و میلادي» د کتنې له مخې، د ۱۲۸۸ قمري کال د جمادی الاولي ۱۳ مه، د دوشنبې ورځ ده، نه شنبه. دا ځکه چې د ۱۲۸۸ قمري کال، د جمادی الاولي لومړۍ ورځ، د ۱۸۷۱ میلادي کال د جولای له نولسمې سره برابره ده. د مصر په شان په یوه اسلامي هېواد کې، چې هلته د تقویم شمېره په قمري حساب وه، که د میاشتې پیل کې يې د سپوږمۍ د لیدو او نه لیدو له امله تېروتنه کړې وي، امکان يې درلود، خو دا به ناشونې وه چې د میاشتې دیارلسمه نېټه کې تېر وزي.

۲- د ۱۲۸۸ قمري کال، د محرم په پیل کې، سید جمال الدين، د «صنعت» په اړه، د استانبول په دار الفنون کې، تر وینا وروسته، د عثماني سلطان له خوا له استانبوله وشړل شو، دا یوه مشهور داستان دی. نو څلور میاشتې او دیارلس ورځې وروسته، ولې بیا استانبول ته ځي. په داسې حال کې چې تاریخي شواهد ښيي، چې سید جمال الدين، د ۱۲۸۸ قمري کال له محرم میاشتې نه، د ۱۲۹۶ قمري کال تر روژې پورې – د ۱۸۷۱ کال له مارچه، د ۱۸۷۹ میلادي تر اگسته پورې په قاهره کې ژوند کړی دی. او په دې موده کې هېڅکله استانبول ته تللی نه دی. مگر دا چې په وروستیو کلونو کې د عثماني خلیفه، دویم سلطان عبدالحمید په بلنه (۱۳۱۰ ق) له لندنه، استانبول ته ورغلی دی.

له دې ټول تفصيل سره سره، زما په اند د يو چا په نامه د پاسپورت صادرول، دا معنا نه لري چې هغه سړی، د هغه هېواد تبعه دی. او زما په اند خو سيد ته، د همدې ايراني پاسپورت صادرول، له ايرانيتوبه، زيات د هغه د افغانيتوب څرګندونه کوي، ځکه محترم استاد جاويد وايي: «بنا به امر ناصر الدين شاه قاجار» په داسې حال کې چې د پاسپورت صادرول د پاچا امر ته اړتيا نه لري، مګر دا چې کوم فوق العاده حالت وي. هغه حالت چې د بهرنيو چارو د وزارت د تشريفاتو مشر او يا هم د بهرنيو چارو وزير ونه شي کولای، په دې اړه پرېکړه وکړي او پاسپورت هم سياسي وي، نه عادي.. آيا د ټولو پاسپورتونو د صادرولو امر د ايران پاچا ورکاوه؟ د بېلګې په توګه په افغانستان کې، اخضر ابراهيمي، د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتو پخواني استازي ته، د هېواد د ولس مشر ښاغلي حامد کرزي، په امر، افغاني پاسپورت ورکړل شو. دا کار د هېواد د بهرنيو چارو د وزير او يا د تشريفاتو د رئيس له صلاحيته لوړ و. ځکه «ابراهيمي» بهرنی و. سيد جمال الدين هم افغاني دی. نو ځکه د ناصر الدين قاجار په امر ورته پاسپورت ورکول کېږي. کېدای شي، سيد ته د ايراني پاسپورت صادرېدل، د هغه سفر لپاره و چې سيد جمال الدين او الحاج محمد حسن امين الضرب په ګډه، له روسانو سره د خبرو لپاره سن پترزبورګ ته روان و. سيد دا سفر له انګريزانو سره د مبارزې په خاطر ومانه. هغه له ختيځ او مسلمانانو سره د روسانو د نظر د نږدېوالي لپاره ځينې داسې چارې تر سره کړې چې الحاج محمد امين الضرب، ايران ته، د ياد شوي تر راستنيدو، وروسته، په خپلو ليکونو کې اشارې ورته کړې دي، او زما په يوه مقاله کې د هغه په اړه يادونې راغلې دي.

که څه هم په دې اړه، يو غير خوشبينانه نظر شته، چې د سيد جمال الدين افغاني د ايرانيتوب د ثابتولو لپاره اسناد وروسته جعل شوي وي او تر هغه نه لا غير خوشبينانه نظر لا دا چې وکولای شي سيد له آستانې نه ايران ته احضار کړي، هغه ته يې د دې لپاره پاسپورت صادر کړی دی چې د ترکيې حکومت دا ومني چې هغه د ايران تبعه دی. او نوموړی بايد ايران ته وسپارل شي، خو ترکيه دا نه مني او يوازې درې تنه نور چې ترکيه د هغو په ايراني تابعيت کې شک نه لري، ايران ته تسليموي. والله اعلم. (۲۹)



میر محمد صدیق فرهنگ

میر محمد صدیق فرهنگ

خدای بښلی میر محمد صدیق فرهنګ (۱۲۹۴- ۱۳٦۹) د هېواد له سترو مخورو او مورخینو نه دی، چې په خپل مشهور او پاروونکي اثر «افغانستان در پنج قرن اخیر» کې یې د سید جمال الدین په اړه د «معمای سید جمال الدین» تر سرلیک لاندې بحث کړی دی.

مرحوم فرهنګ خپل څېړنیز شک، د سید جمال الدین په اړه داسې څرګندوي:

«... د سید د مولد په اړه، تاریخ لیکونکو په بېلابېلو هېوادونو کې، ډول - ډول او متناقضه مطالب لیکلي دي، چې له بده مرغه په هغو کې د څېړنیزو او علمې پلټنو د روحیې پر ځای ناسیونالیستي او سیاسي ملاحظات لاسبري دي. په اغلب ګمان چې سید به د ۱۸۳۸ کال په شا او خوا کې، د افغانستان د کنړ په دره کې زېږېدلی، خو دا څرګنده نه ده چې بیا په کوم لامل او څه وخت له افغانستانه وتلی دی. دا تر هغه وخته چې د امیر دوست محمد خان د زامنو ترمنځ د کورنۍ جګړې پر وخت بیا افغانستان ته راستون شوی دی.»(۳۰)

مرحوم فرهنګ په خپله لیکنه کې، پر هغه ګزارش تکیه لري چې هغه دی «ګزارش وکیل حکومت هند» نوموي او د هغه په معرفۍ کې، په خپل ماخذ کې داسې لیکي:

«روزنامه کابل، سال ۱۸٦۸، متعلق به محفظ ملی اوراق هندوستان» (۳۱)

مرحوم فرهنګ د سید جمال الدین په اړه له هغه ګزارش نه داسې نقل کوي:

«په اوسني وخت کې، استانبولي سید، امیر ته دومره د قدر وړ او ګران دی چې بل هېڅوک په دربار کې دغه دریځ نه لري. هغه په ساعتونو ساعتونو له امیر سره د زړه خواله کوي او ډېر خلک دا ګومان کوي چې هغه د روس استازی دی.»

تر دې نه لږه موده وروسته، د ۱۸٦۸ کال د فبروري د ۱۱ نه تر ۲۰ د ګزارشونو له مخې، هماغه وکیل خبر ورکوي چې «د امیر او استانبولي سید اړیکې سره خړې پړې شوې او امیر له افغانستان ته د بخارا پلو د سید د شړلو غوښتنه کړې ده»(۳۲)

مرحوم فرهنګ، بیا هم د هند د حکومت ګزارش لیکونو د راپور پر بنسټ، هغه وخت چې میر محمد اعظم خان ماتې خوړلې ده او امیر شیرعلی خان واک ته رسېدلی دی، د سید حالت په هغه پړاو کې داسې بیانوي:

«رومي سید، تېر وخت دوه لیکونه د امیر [منظور امیر شیر علی خان دی] او د سردار محمداسلم خان په نامه، د خپلو شخصي نظریاتو د څرګندونې په توګه ولېږل. امیر د لیکونو تر مطالعې وروسته دې پایلې ته ورسېد چې دا سړی کوم خاص منظور لري او پاتې کېدل یې په هېواد کې ګواښمن دي. نو له دې کبله یې هغه ته دولس تومانه د سفر لګښت ورکړ او هغه یې د قندهار او هرات له لارې ایران ته ولېږه.» (۳۳)

مرحوم فرهنګ، له پاسنیو ګزارشونو نه دا نتیجه اخلي چې سید غالبا د امیر محمد اعظم خان د امارت پر وخت، کابل ته راغلی دی، امیر د هغه ښه او تود هرکلی کړی، خو وروسته پر هغه بد ګمانه شوی او بخارا ته یې د هغه د شړلو امر ورکړی دی.

خدای بښلي فرهنګ، همداسې دوام ورکوي:

«سید جمال الدین په کابل کې د خپلې استوګنې پر وخت، په استانبولي یا رومي سید شهرت پیدا کړی او د یوه بهرني یا آن د کوم بهرني هېواد د استازي په نامه پېژندل شوی دی، نه د افغانستان د امیر یوه تبعه».

مرحوم فرهنګ د خپلو دغو اټکلونه په اړه لیکي:

«په دې موضوع کې، د بشپړو معلوماتو د لاس ته راوړلو پورې، هغه باید د یوه تاریخي، خو مجمل او له اسرارو ډک واقعیت په توګه ومنو.» (۳٤)

خو د مرحوم میر محمد صدیق فرهنګ پر لیکنه به زما لنډه تبصره داسې وي:

۱- مرحوم فرهنګ ته دا مناسب نه وو، چې خپلې ټولې خبرې او انګېرنې د یوه انګریزې جاسوس د ګزارش پر بنسټ، هغه هم د داسې جاسوس د خبرو پر بنسټ، چې آن نوم یې هم څرګند نه دی، وکړي. هغه هم داسې ګزارش چې د هغه د خپرېدو نه کال، نه ځای او نه نورې ځانګړتیاوې څرګندې وي. خدای بښلي فرهنګ ته دا لازمه وه چې، دغه اسناد یې، له نورو اسنادو سره چې د دغه مرحوم د ژوند پر وخت خپاره شوي وو، په تېره بیا د «مجموعهء اسناد و مدارک چاپ نا شده در باره سید جمال الدین مشهور به افغاني» کتاب چې پر ۱۳۴۲ لمریز کال د تهران د پوهنتون له خوا خپور شوی و، پرتله کړي وای. کېدای شي بله پایله به یې تر لاسه کړې وای.

۲- مرحوم فرهنګ د هند د حکومت هغه جاسوس یا وکیل په حواله لیکلي دي چې امیر له افغانستانه بخارا ته د هغه د شړلو غوښتنه وکړه.

دا په داسې حال کې ده چې اصلي متن بل ډول دی. زه د هغه انګریزي متن، چې مرحوم فرهنګ د هند د حکومت د استازي ګزارش نومولی دی، «د سید جمال الدین افغاني سیاسی بیوګرافي» له کتابه چې امریکایي مخورې څېړونکې Nikki. R. Keddie لیکلی دی، رانقلوم:

"The Constantinople Syud affects to be annoyad with the Ameer and to desire to leave shortly for Bokhara. Probobly he has some mission" (۳۵)

د پورتني متن ژباړه داسې ده:

«د قسطنطنیه (استانبولي) سید، داسې وښوده چې له امیره خوابدی شوی دی او هیله لري ډېر ژر له (افغانستان) نه، د بخارا په تکل ووځي. احتمالا هغه به کوم ماموریت لري.»

نو دلته د مرحوم فرهنګ د خبرې پرخلاف، امیر محمد اعظم خان له سید جمال الدین نه غوښتنه نه کوي، چې افغانستان د بخارا په تکل پرېږدي، بلکې دا سید جمال الدین دی چې تکل لري ډېر ژر بخارا ته لاړ شي.

Probobly he has some mission یوه قرینه ده. او دا ثابتوي چې دا پرېکړه، د سید جمال الدین پرېکړه ده، نه د امیر محمد اعظم خان. او یا هم کېدای شي انګریزي جاسوس سید د کوم بهرني هېواد مزدور ګڼلی وي. د دې ګزارش له لېږلو سره، هغه غواړي ووایي چې هغه د روسانو جاسوس دی، بخارا ته ځي چې له روسانو سره اړیکي ټینګې کړي!!

دا په داسې حال کې ده چې د سید په نامه د امیر محمد اعظم خان لیک کې، چې د دې رسالې په اخره کې به د هغه خطي بڼه درج کړم، دا ښکاري چې امیر، سید، په ډېر خورا ادب «سید سند امجدا» په نامه یادوي او د هغې له مطالعې داسې برېښي، سید له امیره پېښور ته د تګ اجازه اخیستې ده.

۳- د مرحوم فرهنګ په کتاب کې بله موضوع، د قندهار او هرات له لارې د امیر شیرعلی خان له خوا ایران ته د سید شړل دی. دا خبره نه د سید د ژوند له تاریخي پېښو سره اړخ لګوي او نه د هغه وخت د حاکم سیاست له کړو وړو سره. ځکه هغو څېړونکو چې د سید د ژوند او مبارزو په اړه څېړنې کړې دي، پوهېږي چې سید له امیر شېر علي خانه هیله وکړه، چې اجازه ورکړي چې حج ته لاړ شي او امیر شېر علي خان، هغه ته په دې شرط اجازه ورکړه چې، د ایران له لارې لاړ شي. د امیر دا شرط هم منطقي دی. هغه واکمن چې پوهېږي، سیال یې یعنې امیر محمد اعظم خان، په ایران کې ژوند کوي او سید هم د امیر محمد اعظم خان دوست دی، ښه به دا وي چې داسې پرېکړه وکړي، چې هغه دوه تنه سره، ونه ګوري.

نو له دې کبله، څنګه امیر شیر علي خان کولای شول، هغه ته دولس تومانه ورکړي او هغه ایران ته وشړي.

د امیر شیر علي خان له خوا سید ته د هند له لارې حج ته د سفر اجازه، نه د ایران له لارې، زیاتو څېړونکو او لیکوالو را اخیستې، چې موږ یوازې د سید د رشید شاګرد، شیخ محمد عبده، پر لیکنه اکتفا کوو:

شیخ محمد عبده داسې لیکي: «و لهذا رأی السید جمال الدین خیرا له أن یفارق بلاد الافغان، فاستأذن له علی شرط أن لایمر ببلاد ایران کی لا یلتقی فیها بمحمد اعظم و کان لم یمت بعد؛ فارتحل علی طریق الهند، سنة ۱۲۸۵ (۱۸٦۹ م...)» (۳٦)

...له همدې کبله سید جمال الدین دا ښه وګڼله چې افغانستان پرېږدي، نو له دې امله یې له امیر شیر علی خانه اجازه وغوښته، چې حج ته لاړ شي. امیر هغه ته په دې شرط اجازه ورکړه چې د ایران له لارې لاړ نه شي، چې هلته له امیر محمد اعظم خان سره چې لا مړ شوی نه و، مخامخ نه شي. هغه د هند له لارې په ۱۲۸۵قمري کال چې له ۱۸٦۹ میلادي سره برابر و، سفر وکړ.

په هر حال، د مرحوم فرهنګ په لیکنه کې د هغه دا خبره، په هره مساله او په تېره بیا د سید جمال الدین افغاني په اړه، د هر لیکوال او څېړونکي لپاره د پام وړ وي. ځکه تل دا سپارښتنه کېږي چې د علمې څېړنو تګلاره له قامي او ملي تعصبه پرته باید وشي. په ریښتیا هم د دغې تګلارې د غوره کولو او په پام کې نیولو له مخې کولای شو حقایق لاس ته راوړو او بیا هم د مرحوم میر محمد صدیق فرهنګ د وینا له مخې چې «د افغانستان په هغه پړاو کې د هغه ریښتینې ونډه روښانه او څرګنده شي.» (۳۷)



پوهاند عبد الحی حبیبي

پوهاند عبدالحي حبیبي

د افغانستان یو بل نومیالي چې د سید جمال الدین په اړه یې لیکنې کړې دي، علامه عبدالحي حبیبي دی.

حبیبي د «نسب و زاد گاه سید جمال الدین الافغاني» په نامه یو ارزښمند کتاب لري. دا کتاب له نن نه دیرش کاله مخکې په کابل کې خپور شوی دی. له بده مرغه د استاد دغې گټورې څېړنې وروسته د هېوادوالو له خوا تعقیب شوی نه دي. دا کتاب د هغه ارزښت له امله چې لري یې او کېدای هم شي چې زیات شمېر هېوادوال یې د لومړي ځل لپاره د سید جمال الدین په اړه د افغانستان د څېړنو او پلټنو د یوه نومیالي مخکښ نه واوري او ولولي، نو له دې کبله د پوهاند حبیبي د لیکنې ځېنو ټکو ته اشاره کوم. علامه حبیبي لیکي:

«سید علي د سید صفدر پلار په همدان کې د استوگني له امله په همداني شهرت لري او د کنر په «دونهي پشد» کې خښ دی، چې د شاه همدان د زیارت په نامه مشهور دی.» ۳۳مخ

پوهاند عبدالحي حبیبي په یاد شوي اثر کې د سید جمال الدین د پلار، سید صفدر او د هغه د تربرونو، د سید نظیف د زامنو تر منځ، د فیوډالي سیالیو یادونه کوي: «د سید نظیف زامنو دغه تربوري وگټله او سید صفدر یې د کنړ د درې له تل او زړه «پشد» نه، د کوز کنړ، د جنوبي برخو د وروستیو کلیو، چېرې چې شیرگر، یعني «اسد آباد» نومېږي، ور وشاړه. هلته یې په خپل نامه «صفدري» یوه کلا جوړه کړه او لا تر اوسه هم د جلال آباد په ۵۰ کیلو متری کې شیرگر او صفدري په نامه یادېږي. او همدا د شیرگر کلي، په ۱۲۵۴ قمري - ۱۸۳۸ میلادي کې د سید جمال الدین زوکړې ځای دی.» ۴۲مخ.

پوهاند حبیبي دغه راز لیکي چې سید محمود پاچا د سید صفدر له تربرونو نه، چې د وزیراکبر خان زوم و، د کنړ واکمن حکمران شو. د هغه سیال سید صفدر له خپل زوی او کورنۍ سره، په ۱۸۴۴ کال کابل ته راغلل. سید جمال الدین، هغه وخت له ٦ او ۷ کالو زیات عمر نه درلود. ۴۳ مخ.

پوهاند حبیبي په خپل څېړنیز کتاب کې، داسې ټکي ته اشاره کوي چې کېدای شي لومړنۍ په ډاګه څرګندونې واوسي چې د پوهاند حبیبي په کچه یو لوړ افغان څېړونکی، هغه بیانوي. استاد حبیبي وایي:

«سید صفدر... د درباري دسایسو نه د ژغورني لپاره، له خپلو اولادونو او کورنۍ سره، د کندهار او هرات له له لارې، د اتم امام یعنی «امام رضا» او مشهد زیارت ته لاړ او له هغه ځایه یې، د همدان په اسد آباد کې، د قاضي میرشرف الدین حسیني...له کورنۍ سره خویښي، خپلوي وکړه او همالته استوګن شول. ځکه پلار یې سید علي له همدانیانو سره د پېژندګلوي سابقه لرله.″ ۴۳ مخ.

استاد حبیبي زیاتوي:

«هغه څه چې د سید د ورور مسیح الله د قبر پر لوحه، پر (۱۲۹٦ قمری کې مړ) طیبه بېګم، مریم او د سید د میرې د نورو خپلوانو له ډلې نه، د همدان په اسد آباد کې پاتې دي، د هغه د همدې خوېندو او وروڼو له پاتې شونو نه به وي او د تاریخ په اوږدو کې، موږ د سلګونو افغاني او ایراني کورنیو، د دغه شان مهاجرتونو او وصلتونو بېلګې ښودلی شو.» ۴۳مخ

پوهاند حبیبي همد رنګه لیکي:

«سیدعلي، د سید جمال الدین نیکه، د حرمین شریفین زیارت ته، د همدان له لارې روان و. څه موده هلته پاتې شو او د سادات همداني له کورنۍ سره یې آشنایي (یا کېدای شي کوم وصلت) هم شوی وي.» ۴۷ مخ.

سید علي چې کله کنړ ته راستنېږي، په همداني یا شاه همداني مشهورېږي. استاد حبیبي د «شیرګړ» په اړه وایي:

«شیرګړ په درې برخو: شیرګړ، د عبدالجلال شیرګړ او د ګل محمد په شیرګړ وېشل شوی دی او اوس د کامې په ولسوالۍ پورې اړه لري.» ۴۸ مخ.

استاد حبیبي دغه راز ویلي دي چې شیرګړ (اسد آباد) د سید جمال الدین د زوکړې ځای، هغه وخت د کنړ یوه برخه ګڼل کېده.

استاد حبیبي، د «آثار سید جمال الدین» د اردو ژبې کتاب د مولف، عبدالغفار هندوستانی په حواله لیکي: له محمد نادرخانه چې پر ۱۹۲۷ میلادي کال، په پاریس کې استوګن و، د سید جمال الدین په اړه پوښتل شوی دی. نادر خان په ځواب کې ویلي دي:

«د افغانستان د کنړ په اوسنۍ سیمه کې، چې د ساداتو لپاره ځانګړې شوې ده - شیرګده - یو ځای دی، چې معنا یې اسد آباد دی.» ۵۴ مخ

د یادونې وړ ده چې د پښتو د «شیر ګړ» د کلمې املا په اردو کې د شیرګده په بڼه لیکل کېږي.

استاد حبیبي وایي:

شیرګړ د سید جمال الدین د زوکړې ځای دی، خو سید چې خپلو عربي، ترکي، لودیځوالو او ایراني شاګردانو ته ویل چې زما د زوکړې ځای د کنړ، اسد آباد دی، مقصد یې همدا شیرګړ و، چې فارسی ژبو، دغه ځای ته اسد آباد ویلی دی. او اوس یې یوازې پښتو نوم پاتې دی. ځکه د کنړ او کامې په ټوله سیمه کې خلک په پښتو خبرې کوي او اسد آباد د شیرګړ د کلمې فارسی ژباړه ده.

پوهاند حبیبي زیاتوي: «د ایران معاصر پېژندل شوی څېړونکی، علامه محمد قزویني، هم وایي چې د دغو في الواقع فرضیاتو ادعاوې د منلو وړ نه دي، چې د اسد آباد یوه اوسېدونکي چې ځان د هغه خوریی معرفي کړی دی او ځو کاله مخکې یې په

دې اړه یوه رساله هم خپره کړې او په خپل اند یې د هغه د کورنۍ غړي چې لا تراوسه هم په اسد آباد کې دي، یو یو ښودلی دی.»(۳۸)

علامه عبد الحی حبیبي، د ایرانی علامه قزویني په دې خبره داسې تبصره کوي: «د دغه شان نظره سره سره، محققان باید له بې دلیله ادعاوو لاس پر سر شي».

د استاد حبیبي د اثر له مطالعې نه داسې څرګندېږي چې، د نسب هغه سلسله چې د سید جمال الدین د خوریې په نامه، لطف الله خان خپره کړې ده، استاد حبیبي چور نه مني. که لږ په زغرده خبرې وکړو، کېدای شي استاد علامه حبیبي، لومړنی افغان څېړونکی وي چې خبرې یې د سید جمال الدین په اړه د ایرانیانو له ادعاوو سره هم نږدې او هم د څېړنې او پلټنې پر پایلو ولاړې دي.

استاد عبدالحي حبیبي وایي:

«په دې حالت کې، په مندرجه نسبلیک کې د لطف الله ادعا، د همدان په اسد آباد کې، له سید صفدر او د سید د ناسکه خویندو نه پرته، بل څه نه شو کولای ومنو، ځکه موږ د سید جمال الدین، په اسنادو، مدارکو او د سید د همدان په اسد آباد کې د سید د وروستنیو بې شمېره خپلوانو لیکونه او یادښتونه وینو، چې هلته، د سید د پلار او خویندو له شتوالي نه انکار کېدای نه شي.» ٦٠ مخ.

استاد حبیبي، دې اسنادو ته په اشاره وایي: «...او له هغه ټولو نه، له دغې کورنۍ سره د سید د خپلوي، د هغه د خویندو او میرې، د پلار او وروڼو شته والی څرګندېږي، مګر دا چې که څوک ډېر بدبینه واوسي او د منطق برخلاف، دا لیکونه جعلي او یا هم د نیمګړتیا او جراحت سبب وګڼي.» ٦٢ مخ

ښاغلي اصغر مهدوي او ایرج افشار، د «مجموعه ء اسناد و مدارک چاپ نشده در باره سید جمال الدین مشهور به افغاني» د غوره کتاب په سریزه کې لیکي چې:

«څېړونکي لا په دې بریالي شوي نه دي چې ووایي، هغه اصلاً ایراني و او که افغاني. په ایران کې پیدا شوی دی او یا په افغانستان کې. له بده مرغه، هغه مدارک چې په دې ټولګه کې هم راټول شوي دي، لا تراوسه دا مطلب په زغرده څرګندولی نه شي، که څه هم د همدان له اسد آباد سره د ده د کورنۍ پیوند کې هېڅ شک نه پاتې کېږي، بیا دا پوښتنه پیدا کېږي چې ولې سید، ځان د (۲۹ شمیره سند له مخې) افغان او کابلی او د کنړ له ساداتو معرفي کوي. که داسې وګڼو چې سید، د ځینو دلایلو له مخې چې موږ ته څرګند نه دي او کېدای شي یو وخت څرګند شي، له افغانستان را مهاجر شوی او په اسد آباد کې مېشت شوی دی.» (۳۹)

استاد حبیبي هم، د هغه نقل قول دوه وروستۍ کرښې په خپل کتاب کې درج کړي دي او بیا سمدلاسه په زغرده داسې لیکي:

«زما په اند سید صفدر د هغو دلایلو پر اساس چې مخکښیو پاڼو کې یې یادونه وشوه، له شیرګړ یا د کنړ له اسد آباده، د خپل زوي، سید جمال الدین د زوکړې له ځایه، خپل کورنۍ او کهول سره هجرت کړی دی او د هغې سابقې له مخې یې چې د ده پلار سید علي شاه همدان، په دغه ښاره کې لرله، له اسدا آبادي ساداتو سره خوېښي کړې او هلته استوګن شوی دی.» (۴۰)

لکه هغه څنګه چې ګران لوستونکي ګوري، د علامه حبیبي دا تحقیقي اثر، د سید جمال الدین په اړه غوره افغاني تحقیق دی، چې نوې خبرې لري. «غوره افغاني تحقیق» یې ځکه بولو، چې هر هغه څه چې په افغانستان کې د سید جمال الدین په اړه خپاره شوي دي، زیاتره یې د بهرنیو د کار او څېړنو، په تېره بیا مصري، هندي، ترکي او ایراني څېړونکو د کار نتیجه ده. دا په داسې حال کې چې استاد عبد الحي حبیبي د سید د نیکونو او تربرونو د نومونو د پیدا کولو لپاره د کنړ د محاکمو یو سلو څو کلنو کتابونو ته چې د کنړ د ساداتو ملکیتونه په کې ضبط او ثبت دي، پلټلي او کتلي او د سید د نیکونو قبرونه یې په کنړ کې معلوم کړي دي. او هغه خبرې یې چې د سید په اړه کړي دي، پخوا ویل شوې نه وې. که د استاد حبیبي څېړنو دوام پیدا

کړی وای، زما په اند چې د افغانانو او ایرانیانو د ادعاوو تر منځ به ګډ ټکي پیدا شوی وای.

د استاد عبدالحي حبیبي له خبرو زه دا پایله تر لاسه کوم چې:

۱- د کنر «اسعد آباد» چې زیاتره رسمي او غیر رسمي مورخین هغه د سید جمال الدین، د زوکړې ځای ګڼي، سمه نه ده. دا ځکه چې د سید لومړنی ژوندلیک چې په مصر کې د شیخ محمد عبده، په قلم لیکل شوی دی او هلته «اسعد آباد» د سید د زوکړځای په نامه ثبت شوی دی، په افغانستان کې یې هم یوه سیمه د «اسعد آباد» په نامه نومولې ده. په داسې حال کې چې موږ شیرګړ لرو او مانا یې اسدآباد دی. او «جعل» ته اړتیا نه لیدل کېږي. او محمد نادرشاه هم چې په ۱۹۲۷ میلادي کال، په پاریس کې د افغانستان وزیر مختار و، دا خبره مني. نو ځکه کله چې سید جمال الدین اسد آبادي وایو، موخه مو همدا شیرګړ دی، نه د همدان اسد آباد.

د «سرنوشت» ښکلی او مبارز وېبسایټ، هم د ۱۳۸۵ لمریز کال په ژمي کې د «پرسشي چند در مورد سید جمال الدین افغاني» تر سرلیک لاندې، د ښاغلي اسد الله غالب په قلم مقالې خپرې کړې، چې په هغو مقالو کې یوه مطرح شوې پوښتنه دا وه چې: «آیا دا رښتیا ده چې لا شپیته کاله پخوا، په کنړ کې د - اسعد آباد – په نامه کوم ځای نه و؟ او ویل کېږي چې د افغانستان حکومت په ۱۳۴۰ کال کې د شیرګړ سیمه د «اسعد آباد» په نامه ونوموله ؟»(۴۱) او استاد حبیبي په غیر مستیقمه بڼه، دېرش (۳۰) کاله پخوا دغې پوښتنې ته ځواب ویلی دی. (۴۲)

۲- د سیدجمال الدین افغانی نیکه چې همدان ته تللی دی او د استاد حبیبي په وینا، دا احتمال هم لري چې هلته یې «واده» هم کړی وي، په کنړ کې په شاه همدان معروف او همالته خښ دی.

۳- سید صفدر، د سید جمال الدین پلار، له خپلې کورنۍ سره، د همدان اسد آباد ته تللی او هلته یې، بیا واده کړی دی.

۴- د سید خوریی، آیا د سید صفدر له افغاني ښځې نه دي؟ او یا د ایراني ښځې، چې د علامه حبیبي د لیکنې له مخې، په ډاګه نه څرګندېږي، خو که د میرزا لطف الله خان د خوریتوب ادعا سمه وي، باید مور یې د سید صفدر د افغاني (۴۳) ښځې لور وي.

۵- د استاد حبیبي لیکنه شعار وزمه نه ده. هغه پر اسنادو او دلایلو ولاړه ده او د علامه قزویني خبرې چې د یوه ایراني له خولي نه، زیاتره افغانان، د هغه د افغان والي لامل ګڼي، استاد حبیبي په یوه تبصره کې، په بشپړه توګه نه مني. په هر حال، له دې ټولو خبرو سره سره، په هغه خبره کې چې زه له استاد حبیبي سره ځان موافق نه ګڼم، هغه په قزوین، تهران، نجف او نورو شیعی مراکزو کې د سید جمال الدین زده کړې دي. ځکه زما په اند، د سید فکري ثقافت، د اهل سنت او جماعت په باورونو ولاړ دی، چې په لنډ ډول مې د «مذهب عقدی سید جمال الدین افغانی» تر سرلیک لاندې په بله مقاله کې څېړلې، او خبره زیاتو څېړنو ته اړتیا لري.

دغه راز، دا هم معلومه نه ده چې وړوکي سید جمال الدین، له خپل پلار سره د همدان په سفر کې ملګری و او کنه؟ کېدای شي سید جمال الدین په کابل کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړی وي او پلار یې، سید صفدر له خپلې کورنۍ سره د ایران همدان ته تللی وي. ځکه، که سید جمال الدین د ایرانیانو د ادعا له مخې د شیخ مرتضی انصاري شاګرد وای، په هغه سرشار ذکاوت او علمي تبحر چې هغه درلود، باید د تشیع د نړۍ د مرجعیت ستر دریځ ته رسېدلی وای.

له دې کبله د پوهاند عبد الحي حبیبي د خبرو پایله دا کېږي چې د میرزا لطف الله خان د شجره جوړونې او د سیدجمال الدین د نیکونو د قبرونو د تیرو او الواحو جوړول دقیقه خبره نه ده، یعني له سید صفدره آپلو اعتبار نه لري. ځکه د سید جمال الدین د نیکونو قبرونه د افغانستان په کنړ کې دي. سید صفدر د همدان (اسد اباد) ته تللی او د خپلې افغاني مېرمنې، د سید جمال الدین د مور تر مرګه وروسته یې ایرانۍ ښځه کړې ده او همالته مړ شوی دی. که کوم څېړونکي د استاد حبیبي علمي صلاحیت او څېړنیزه پیاوړتیا لرلای او د استاد حبیبي د ۳۰ کاله پخوا کار ته یې دوام

ورکړی وای، بېشکه چې د سید جمال الدین په اړه به نور ټکي هم راڅرګند شوی وای، خو له بده مرغه د دېرشو وروستیو کلنو نا آرامیو، چې هغه د ټولو نیمګړتیاوو دلیل ګڼل کېږي، په دریوو وروستیو لسیزو کې سید جمال الدین ته د لږ پام هم د همدې نا ارامۍ نتیجه او په افغانستان کې د څېړنیزو او علمي پلټنو لپاره د شرایط نا برابري وګڼل شي.

ګرانو لوستونکو! د دې مقالې نه زما موخه، یوازې دا یادونه ده چې په افغانستان کې د سید جمال الدین په اړه څېړنیز کارونه - د هغه د زوکړې د ځای په توګه - کار ډېر کم شوی دی. او ان مبالغې هم په کې شوې دي. د ساري په توګه، استاد میر سعید بریمن، چې د سید «نیچریه» یې له فارسي ژبې پښتو ژبې ته اړولې ده، د نیچریه په سریزه کې د کوم سند له وړاندې کولو پرته لیکلي دي چې سید جمال الدین د امیر محمد افضل خان لومړی وزیر و. (۴۴)

خدای دې وکړي چې په کابل او کنر کې د سید جمال الدین افغاني د وفات د یوسلو لسم تلین په مناسبت، نوي څېړنیز علمي کارونه تر سره شي، چې د سید د افکارو او اندېښنو لېوال له دغو څېړنو نه برخمن شي. (۴۵)

لمن لیکونه

۱- سلطان محمد خان کابلي، چې محمود طرزي د ۱۲۹۵ لمریز کال د میزان د میاشتې، د سراج الاخبار په پنځمه ګڼه کې خپل ګران هموطن ګڼلی دی، د هندوستان، د اتراپردیش (یو- پی)، د فرخ آباد د سیمې، په مشن سکول کې د فارسي او عربي ژبو د ښوونکي دنده لري.

۲- سید جمال الدین د ۱۸٦۹ کال په جولای کې، د هند بمبیي له لارې، ځان قاهرې ته رسوي او دا له قاهرې نه د هغه لومړنۍ کتنه ده. هغه په قاهرې کې د ځلوېښتو ورځو له تېرېدو وروسته، استانبول ته ځي. له دې ماخذ نه زما د لیکلو موخه دا وه چې مرحوم طرزي دا ادعا لري چې سید د محمد اعظم خان د پادشاهۍ پر وخت کابل ته راغلی دی او یو عربي خادم یې هم ورسره مل و. دا په داسې حال کې دی چې د امیر محمد اعظم خان پاد شاهي د ۱۸٦۷ کال په اکتوبر کې پیلېږي او د ۱۸٦۸ کال په سپتمبر کې د امیر شیر علي خان له خوا ماته خوري او ایران ته تښتي او همالته مري. نو له دې کبله د مصري عربي خادم درلودل چې مرحوم طرزي د هغه یادونه کړې ده، ربښتیا ته ورته نه دی.

۳- د روم نه مقصد، د عثمانیه دولت دی. (دوکتور روان فرهادي)

۴- زیاتره هغو کسانو چې د سید ژوندلیکونه لیکلي دي، استانبول ته د سید لومړنۍ سفر هغه وخت ګڼي چې سید د امیر شیر علي خان په وخت کې (په ۱۲۸۵ قمري او د ۱۸٦۸ کال وروستي وختونو کې) د وروستي ځل لپاره له افغانستانه وتلی

دی. شیخ محمد عبده، د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ پر وخت، له افغانستانه تر وتلو وروسته، استانبول ته د هغه د لومړي سفر په اړه داسې وايي: «بمبيي ته سفر، بیا په قاهره کې څلوېښت ورځې پاتې کېدل او بیا د لومړي ځل لپاره استانبول ته سفر».

۵- د «مجموعهء اسناد و مدارک چاپ نشده در بارهء سید جمال الدين مشهور به افغانی» د خپرو شویو اسنادو او مداروکو په ډله کې: ښاغلو اصغر مهدوي او ایرج افشار د مهمې ټولگې او ټکو راټولوونکي، تنظیمونکي او درج کوونکي دي. لوستونکي د هغو په دغه ټولگه کې د غلام محمد خان طرزي او افغاني سید جمال الدين ترمنځ د اړیکو ځینو اشارو ته پام کېږي. سید جمال الدين د خپلو یادښتونو د کتابچې په ٦٦ مخ کې لیکلي دي: «غزلی از طرزی افغان» دغه راز له سید جمال الدين د پاتې شویو اسنادو او مدارکو په منځ کې، د یادې شوې ټولگه د ۷۸م مخ، په ۳۳۰ شمېره کې دا عبارت راغلی دی: «د طرزي افغان د شعرونو د جزوې محتوا، په ښه نستعلیق خط (اته پاڼې)» او په ۳۳۱ شمېره کې د «د طرزي افغان غزل او رباعي» عبارت راغلی دی، که ښاغلو مهدوي او ایرج افشار، هغه سرودونه خپاره کړي وای، کېدای شي له هغو نه به خورا مهم ټکي راڅرگند شوي وای.

٦- د مرحوم محمود طرزي دا غوښتنه چې که څوک د سید صفدر او د هغه د زوي سید جمال الدين په اړه معلومات لري، باید سراج الاخبار ته یې ور ولېږي. ظاهراً بې ځوابه پاتې ده. ځکه په سراج الاخبار کې، د هغه تر وروستۍ گڼې پورې څه نوي خپاره شوې نه دي. بیا همدا غوښتنه، تر محمود طرزي نه شپږ کاله وروسته، ښاغلي تقي زاده، له برلینه خپرېدونکې د «کاوه» د جریدې مسوول مدیر، د ۱۹۲۱ کال د مارچ د میاشتې د ۱۱ مه د درېیمه گڼه کې د خپلې یوې مقالې په پای کې مطرح کړې ده: «له لوستونکو نه ځانگړې غوښتنه کېږي چې د حقیقت او د هېواد ملي تاریخ ته د چوپړ په خاطر، هر هغه څه چې د دغه ستر بې لقبه ایراني په اړه ، پوهېږي، مهرباني وکړئ د «کاوه» د خپرونې ادارې ته یې ولیکئ. د امتنان وړ به شي»، د کاوه، بشپړ کلکسیون، ۴۸۵ مخ.

۷- په دې برخه کې باید په ویاړ یادونه وکړم چې افغانستان پورې اړوندو مطبوعاتو، له ایراني اړوندو مطبوعاتو نه تر مخه د سید یادونه کړې ده. ځکه زما د اطلاعاتو له مخې، هغه لومړنۍ ایراني خپرونې چې د سید ژوندلیک یې خپور کړی دی، له برلینه خپرېدونکې کاوه جریده وه. دا جریده چې د سید حسن تقي زاده په مدیریت خپرېده، د خپلې نوې دورې د دویم کال په ۳ یمه گڼه کې. یعنې د ۱۹۲۱ کال د مارچ د میاشتې په ۱۱ مه (د ۱۳۳۹ ق کال رجب المرجب) په پنځم مخ کې د «د ختیځ او عربو د خلکو مشاهیر» تر سرلیک لاندې، د سید جمال الدین ژوند لیک خپور کړی دی. او بل وار د همدې جریدې په ۹ گڼه کې، چې د ۱۹۲۱ کال د سپتمبر په ۴ (د ۱۳۳۰ کال محرم) کې د «تکلمه راجع به شرح تاریخ زندگی سید جمال الدین اسدآبادی، معروف به افغانی» یوه مقاله خپره کړې ده. په دې ډول سراج الاخبار څه کم شپږ کاله په دې برخه کې تر «کاوه» نه د مخه شوی دی.

لومړنۍ مقاله د «کاوه» د بشپړ کلکسیون په ۴۷۹ مخ او دویمه مقاله یې په ٦۱۰ مخ کې خپره شوې ده.

۸- مقالات محمود طرزي، ۴۳۵- ۴۴۵ مخونه.

د یادونې وړ ده چې، دغه مهمه مقاله د «احوال سید جمال الدین افغانی» تر سرلیک لاندې، د هېواد د ستر دانشمند دوکتور روان فرهادي له خوا د «مقالات محمود طرزي در سراج الاخبار افغانیه ۱۲۹۰- ۱۲۹۷ش» نومي پنډ کتاب کې راغلې ده چې، پر ۱۳۵۵ کال کې په ۹۰۰ مخونو کې، په کابل کې خپور شوی دی.

۹- «نخستین کتاب در باره جنبش مشروطه خواهی افغانستان» د پوهاند سید سعد الدین هاشمي، د ۵۸ مخ لمنلیک.

۱۰- د طرزی افغان د دیوان مقدمه، ۱۴ مخ.

۱۱- همدا قصیده ځینې لیکوال په دې دلیل چې په اصلي کتاب کې د سید جلال الدین تر سرلیک لاندې راغلې ده، د بل چا په ستاینه کې بولي، نه د سید جمال الدین افغانی په اړه، خو محمود طرزي او د شاعر مشر زوي محمد زمان خان خازن

الکتب د طرزي افغان د دیوان خطاط، تر ټولو ښه پوهېږي چې شعر د سید جمال الدین افغانی په ستاینه کې دی. که څه هم اویا کاله وروسته ښاغلي محقق حسین نایل، په خپل تحقیقي اثر کې وایي: «د هېواد ځینې پوه څېړونکي او متتبعین، لکه مرحوم غبار...او مرحوم ژوبل...هغه د هېواد د معروف، نومیالي سید جمال الدین په ستاینه کې ګڼلې ده او یا یې مصلحتا جلال الدین په جمال الدین اړولی او ضبط کړی دی» سیری در ادبیات سده سیزدهم، ۲۱۱ مخ

خدای بښلي پوهاند جاوید هم لیکلي دي:

وایي چې سردار غلامحمد طرزي، د سید جمال الدین افغاني په ستاینه کې یوه قصیده لري، چې د هغه په دیوان کې (د هغه په خپل ښکلي خط)د سید جلال الدین په نامه درج او ضبطه ده. ظاهرا ستایل شوی څوک سید جمال الدین افغاني دی، چې د کوم مصلحت له مخې یې هغه بدل کړی دی. د قصیدې مطلع دا ده:

نسیم صبح در گلشن وزید از جانب صحرا
عبیر آمیز و روح انگیز و جان افزا
په تخلص کې وایي:
جلال الدین نام آوار سخن سنج و سخن پرور
خردمند هنر گستر فلک قدر و ملک سیما

دا دوه بیته د افغانستان په مطبوعاتو کې لیدل کېږي، خو په چاپي قصیده کې نه شته.

تو نور افغانستان اخگر تو عود افغانستان مجمر
تو جان افغانستان پیکرتو روح افغانستان اعضا
نه ماه مصر و شام استی که خورشید تمام استی
تو افغان را نظام استی ز رای روشن والا

د استاد جاوید د خبرو په تایید، دا ټکی هم باید ورزیات کړو، چې د سید جمال الدین په ستاینه کې قصیده، د شاعر په ښکلي خط نه، بلکې د هغه د مشر زوی،

سردار محمد زمان خان خازن الکتب، د کتاب خطاط، په ښکلي خط لیکل شوې ده، خو د سید جمال الدین افغاني په اړه، د سردار غلام محمد خان طرزي د کتابونو او اسنادو په منځ کې ځینې اشعار د ده په ښکلي خط هم وي، چې له بده مرغه زموږ همکیشه ایرانیانو، هغه سرودونه، د «مجموعهء اسناد و مدارک چاپ نا شده در باره سید جمال الدین مشهور به افغاني» په ټولګه کې خپاره کړي نه دي.

۱۲- د طرزي د دیوان کلیات، ٦٧٦ مخ.

۱۳- یو شمر زیات افغاني، ایراني، مصري، ترکي او د نورو هېوادونو، لیکوال، په داسې حال کې چې د سید یې د زو کړې نیټه، په قمري حساب ۱۲۵۴ کال ګڼي، خو د هغه میلادي کال ۱۸۳۹، ثبتوي. دې ته په پام سره چې سید و ۱۲۵۴ قمري کال په شعبان کې پیدا شوی دی، نو په یقیني ډول، ۱۸۳۸ م کال د هغه د زوکړې کال دی. د یادونې وړ ده چې، د شنبې ورځ، د ۱۲۵۴ قمري کال، د شعبان د میاشتې له لومړۍ ورځ، د ۱۸۳۸ کال د اکتوبر له شلمې او د شعبان ۲۹، د هماغه کال، د شنبې د ورځې، د نوامبر له ۱۷، چې دا هممهاله د ۱۲۱۷ کال د عقرب او قوس له میاشتو سره برابره ده.

۱۴- افغانستان در مسیر تاریخ، چاپ اول، کابل، صفحه ۵۹۳.

۱۵- تاریخ منظوم افغانستان نوین در آیینه شعر، تالیف استاد عبدالحي آرینپور ولوالجي، صفحه ۱۳۸.

باید یادونه وکړو چې ستر څېړونکی علامه اکبر دهخدا، هم د سید د مړینې د کال په اړه تېروتنه کوي. علامه دهخدا لیکي: «بیا د سلطان عبدالحمید په بلنه، په ۱۳۱۰ هجری قمری کال، استانبول ته لاړ همالته و، تر هغه چې پر ۱۳۱۴، یا ۱۵ او یا ۱٦ کې مړ شو.» آن دا چې علامه دهخدا د سیدجمال الدین افغاني د آثارو سرلیکونه هم په دقیقه توګه نه ثبتوي.

۱٦- تاریخ الاستاذ الامام، الجزء الاول، شیخ محمد رشید رضا، ۹۲مخ.

١٧- تاریخ الاستاذ الامام، شیخ محمد رشید رضا، ٩٣مخ.

١٨- Sayyid Jamal ad Din al Afghani A Political Biography ٤٢٠.

١٩- د ١٣٧٩ لمریز کال د مني دربیمه گڼه، آریانا برونمرزی، ٧مخ.

٢٠- دوکتور سیدمخدوم رهین، د خپل کتاب «آثار گزیده سیدجمال الدین افغاني» په ٦٠ مخ کې، د کلکتې په - البرت هال - کې د سید د وینا نېټه د ١٨٧٢ میلادي کال د نوامبر اتمه لیکلې، چې دا هم یوه تېروتنه ده. او کېدای شي داکتر سید مخدوم رهین او استاد خسرو شاهي دا معلومات له یوې سرچینې یا ماخذه نه اخیستې وي.

٢١- تقویم تطبیقي هزار و پانصد ساله هجری قمری و میلادی (کلیز). ٢٥٨ مخ.

٢٢- نسب و زادگاه سیدجمال الدین الافغاني، ٦٦ مخ.

٢٣- د قمري میلادي، ١٥٠٠ کلن تطبیقي تقویم ٢٦١ مخ

٢٤- قرین صواب (حقیقت ته نږدې) ځکه وایم چې د ځینو منابعو له مخې، سید جمال الدین په همدې وخت، یعني د ١٨٨٢ میلادي کال په وروستیو وختونو کې، امریکا ته سفر درلود او وروسته بیا لندن ته تللی دی. او کېدای شي بیا هند ته ستون شوی وي. لنډ وخت یې هلته تېر کړی او د هغه یو ستر کار هغه وخت، د کلکتې په البرت هال کې وینا وي. یا دا چې هغه په هند کې د استوگنې پر وخت، د ١٨٧٩- ١٨٨٢ کلونو تر منځ، خپله وینا اورولې وي.

٢٥- د ١٣٨٥ لمریز کال په وروستیو ورځو کې، وروسته له هغې چې د «سید جمال الدین افغانی و نخبه گان افغانستان» مقاله، په اروپا او امریکا کې د ځینو هېوادوالو په انټرنټي پاڼو کې خپره شوه، یو گران هېوادوال د سید افغاني په اړه څو ټوکه کتابونه، د مطالعې لپاره راته راولېږل. په هغو کې یو گټور کتاب «سید جماالدین افغانی و افغانستان» د خدای بښلي سید قاسم رشتیا کتاب و.

د هغه کتاب په مطالعه کې مې دې ته پام شو چې خدای بښلي رښتیا هم د خپل یاد شوي کتاب په ٥١ مخ کې د کلکتې په البرت هال، کې د سید د وینا د اورېدونکو په ډله کې د ابوکلام آزاد د حضور یادونه کوي او له نېکه مرغه، د خپل دغه نقل قول لپاره، د خپل کتاب د ١٢٤ مخ، د فهرست او حاشیې، په برخه کې - د معارف او الهلال - مجلې، ١٩٢٢ میلادي کال، د ډهلي چاپ او ١٤٠ مخ یادوي. او کېدای شي استاد جاوید د خدای بښلي سیدقاسم رښتیا له اثره ګټه اخیستې وي. په هر ترتیب، د هغو دلایلو له مخې چې په متن کې یې یادونه وشوه، د لوستونکو به دغې تېروتنې ته پام شي. یعني د کلکتې په البرت هال کې د سید جمال الدین د وینا د اورېدونکو په ډله کې د مولانا آزاد حضور، د استاد جاوید یا خدای بښلي رښتیا خبره او یا هر بل څوک چې دغه شان ادعا ولري، دقیقه نه ده.

٢٦- د آریانا برونمرزي څلورمه ګڼه، د ١٣٧٩ لمریز کال د ژمي ګڼه، ٦ مخ، د سویدن چاپ.

٢٧- دقیقه خبره، همدا ١٣٢٣ لمریز کال دی. ځکه د سید تابوت د ١٣٢٣ لمریز کال د جدي (مرغومې) په میاشت کې له استانبوله راوخوځول شو. بیا د بغداد، کراچۍ، پېښور له لارې کابل ته راورسېد. او د ١٣٢٣ لمریز کال د جدی پر ٩ نېټه د کابل پوهنتون په انګړ کې، چې هغه وخت د – دارالفنون – په نامه یادېده خښ کړل شو. بناء ١٣٢٦ کال چې استاد محیط طبا طبایي هغه ته اشاره کوي، یا چاپي تېروتنه ده یا دا چې استاد محیط پورتنۍ مقاله، له هغې پېښې ډېر کلونه وروسته په ١٣٥٥ لمریز کال لیکلې ده، کېدای شي د تابوت د لېږدېدو دقیقه نېټه ترې هېره شوې وي. والله اعلم بالصواب.

٢٨- سید جمال الدین اسد ابادی و بیداری شرق زمین، تالیف استاد محمد محیط طبا طبایی، ٢٥١ – ٢٥٢ مخونه.

٢٩- د هغه درې تنو نومونه، ناظم الاسلام کرماني، په خپل کتاب «تاریخ بیداری ایرانیان» داسې لیکلي دي: ١- میرزا آقاخان کرماني ٢- حاج شیخ احمد روحي ٣- میرزا حسن خان خبیرالملک. دوی له سید جمال الدین افغاني سره د

همفکرۍ په جرم او له میرزا رضاي کرماني، د ناصر الدین شاه قاجار قاتل، سره د دوستۍ په تور د ۱۳۱۴ قمري کال د صفرالمظفر په ٦ مه اعدام شول.

۳۰- افغانستان در پنج قرن اخیر، ۳٦۷- ۳٦۸ مخونه.

۳۱- افغانستان در پنج قرن اخیر، ۴۲۵ مخ.

۳۲- افغانستان در پنج قرن اخیر، ۳٦۸ مخ.

۳۳- افغانستان در پنج قرن اخیر، ۳٦۸ مخ.

۳۴- افغانستان در پنج قرن اخیر، ۳٦۹مخ.

۳۵- Sayyid Jamal ad –Din al - . Afghani A Political Biography ۳۲ مخ.

د کتاب لیکوال یعني Nikki. R. Keddie د خپل ماخذ نوم Cabul Diary یاد کړی دی. دا کتاب، په انګلستان کې، د مشترک المنافع د هېوادونو د اړیکو په دفتر کې کتل کېدای شي.

د پورتني کتاب د لمن لیک، ۳۰ مخ، د سید جمال الدین افغاني سیاسي بیوګرافي.په هغه وختونه د Kabul پر ځای Cabul لیکل کېده.

۳٦- الرد علي الدهرین، ۹مخ، د الهلال د مجلې په روایت، د ۱۸۹۷ میلادي کال د اپریل لومړۍ، د ۱۳۱۴ قمري کال د شوال ۲۹، یعني تقریبا د سید تر مرګه څلور اوونۍ وروسته.

۳۷- افغانستان در پنج قرن اخیر، ۳٦۹ مخ.

۳۸- نسب و زادګاه سید جمال الدین افغاني، ۵٦ مخ.

۳۹مجموعه اسناد و مدارک چاپ نشده در باره سید جمال الدین مشهور به افغانی، مقدمه.

۴۰- نسب و زادگاه سید جمال الدین افغاني، ٦۵ مخ.

۴۱- د اسدالله غالب خبره باید داسې اصلاح کړو چې: «شیرګړ» په اسعد آباد بدل شوی نه دی، بلکې د «چغه سرای» او یا «چغان تپې» په سیمه یې د «اسعد آباد» نوم اېښی دی، خو د سیمې خلک لا تراوسه هم هغه د چغه سرای په نامه یادوي.

۴۲- محترم دانشمند، سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار، په دې باور دی چې «سدرګت» د زوکړې او «شیرګړ» د سید جمال الدین د زده کړو ځای دی. د سید جمال الدین افغان د ژوندانه هدف،۱۹مخ.

۴۳- سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار، په خپل کتاب – د سید جمال الدین افغان د ژوندانه هدف – د سید صفدر ښځه د مریم بنت ملک دولت یوسفزي په نامه یادوي. (۳۸ مخ) غلام جیلاني اعظمي په خپل کتاب «نابغه عصر نوزدهم» کې، چې په افغانستان کې د سید جمال الدین افغاني په هکله لومړنۍ چاپ شوې رساله ده او په ۱۳۱۰ لمریز کال په کابل خپره شوې ده، د سید مور د کنړ د صافي د قام ګڼي.

۴۴- په پښتو ژبه د ښاغلي میر سعید بریمن، له خوا د نیچریه، د ژباړې په ٦ مخ کې راغلي دي: «کله چې امیر دوست محمد خان پاچا شو، نو سید جمال الدین په دغه وخت کې بیخي زلمی و، د خپل لومړي وزیر په توګه ټاکه.»... کېدای شي ښاغلي بریمن دا خبره چېرې لوستلې وي و خو ماخذ ته یې اشاره کړې نه ده.

۴۵- پورتنۍ مقاله، په انټرنټي سایټونو کې تر خپرېدو وروسته، بیا بیا کتل شوې، نوي پیدا شوي معلومات ورزیات شوي او وړ سمونو نه هم په کې راغلي دي.

د سید د ژوند کرونولوژي

۱ - د سید جمال الدین زوکړه، شیرګړ (اسد آباد)

د ۱۲۵۴ قمري کال، شعبان (۱۸۳۸، اکتوبر یا نوامبر د ۱۲۱۷ کال لمریز کال منی)

۲- سید جمال الدین له پلار سره په کابل کې

۱۲۶۰قمري کال (۱۸۴۴ میلادي، ۱۲۲۳ لمریز)

۳- هند ته د سید لومړنی سفر

۱۲۷۲قمري کال (۱۸۵۵ میلادي، ۱۲۳۴ لمریز)

۴- د حج ادا کولو ته، مکې مکرمې ته د سید سفر

۱۲۷۳قمري (۱۸۵۷ میلادي، ۱۲۳٦ لمریز)

۵- تهران ته د سید لومړنی سفر

۱۲۷۴قمري کال (۱۸۵۸ میلادي)

٦- کابل ته د سید راستنېدل

۱۲۷۴قمري کال (۱۸۵۸ میلادي)

۷- سید ځانته مربعي ډوله مهر جوړ کړ

۱۲۷۷قمري کال (۱۸٦۰ میلادي)

۸- هرات ته د امیر دوست محمد خان ملګرتیا

۱۲۷۹قمري کال (۱۸٦۲ میلادي، ۱۲۴۰ لمریز)

۹- په هرات کې د امیر شیرعلي خان د پادشاهۍ په مراسمو کې ګډون

۱۲۸۰قمري کال محرم الحرام (۱۸٦۳ میلادي کال جون)

۱۰- سید دویم وار په تهران کې

۱۲۸۲قمري کال د رجب وروستۍ ورځې (د ۱۸٦۵ میلادي کال دسمبر)

۱۱- له تهرانه شړل
۱۲۸۳ قمري کال محرم (۱۸٦٦ میلادي)
۱۲- طوس ته ورتګ
۱۲۸۳قمري کال (د ۱۸٦٦ میلادي کال جون)
۱۳- له طوسه وتل
۱۲۸۳قمري کال جمادي الاولي (د ۱۸٦٦ میلادي کال سپتمبر)
۱۴- په هرات کې ۴۰ ورځې تم کېدل
۱۲۸۳قمري کال جمادي الثانیه (د ۱۸٦٦ میلادي کال سپتمبر)
۱۵- د مرآة العارفین د رساله په کندهار کې کتابت (لیکل)
۱۲۸۳قمري کال (د ۱۸٦٧ میلادي کال اپریل، د ۱۲۴٦ لمریز کال)
۱٦- له کندهار وتل
۱۲۸۴قمري کال ربیع الاول (د ۱۸٦٧ میلادي کال جولای)
۱۷- سید په غزني کې
۱۲۸۴قمري کال جمادي الاولی (د ۱۸٦٧ میلادي کال سپتمبر)
۱۸- په کابل کې استوګنه او د امیر محمد اعظم خان مشاوریت
۱۲۸۵ قمري کال (۱۸٦۸ میلادي کال)
۱۹- له کابله وتل
۱۲۸۵ قمري کال د رجب، ۲۰ مه (د ۱۸٦۸ میلادي کال نوامبر)
۲۰- د قندهار له لارې حج ته سفر
۱۲۸۵ قمري کال شعبان (د ۱۸٦۸ میلادي کال نوامبر)
۲۱- استوګنه، د هند په بمبیي کې
۱۲۸۵قمري کال ذوالحجه (د ۱۸٦۹ میلادي کال مارچ)
۲۲- قاهرې ته سفر او هلته څلوېښت ورځې استوګنه
۱۲۸٦قمري کال ربیع الاخر (د ۱۸٦۹ میلادي کال جولای)
۲۳- استانبول ته لومړی سفر
۱۲۸٦ قمري کال رجب (د ۱۸٦۹ میلادي کال)
۲۴- د عثماني امپراتورۍ د معارف د اعلی جرګې غړیتوب

١٢٨٦قمري کال (١٨٦٩ میلادي کال)

٢٥- د استانبول په دار الفنون کې د صنعت په اړه وینا

د١٢٨٧ قمري کال روژه (د ١٨٧٠ میلادي کال دسامبر)

٢٦- مصر ته بېرته ستنېدل

د ١٢٨٨ قمري کال محرم الحرام (د ١٨٧١ میلادي کال مارچ د ١٢٥٠ لمریز کال حمل)

٢٧- په مصر کې ٨ کلنه استوګنه او فکري هلې ځلې

د ١٢٨٨- ١٢٩٦ قمري کلونه (د ١٨٧١- ١٨٧٩ میلادي کلونه او ١٢٥٠- ١٢٥٨ لمریز کلونه)

٢٨- په قاهره کې د الواردات فی سرالتجلیات د رساله املا ویل

د ١٢٩٠ قمري کال صفر (د ١٨٧٣ میلادي کال اپریل)

٢٩- د ماسونیت په غورځنګ کې د سید د غړیتوب غوښتنه

د١٢٩٢ قمري کال د روژې ٢٢ (د ١٨٧٤ میلادي کال د اکتوبر ٢١ – د ١٢٥٣ لمریز کال د میزان ٢٩)

٣٠- د البیان في الانجلیز و الافغان د مقالې د مصري په اخبار کی خپرونه

١٢٩٥قمري (د ١٨٧٨ میلادي کال اکتوبر)

٣١- د سید له خوا د «رد علی الرد» په نامه یوه کشیش ته د رد ځواب

١٢٩٥ قمري کال ذوالحجه (د ١٨٧٨ میلادي کال اکتوبر)

٣٢- په انګریزي ژبه - د البیان في الانجلیز و الافغان - د مقالې خپرونه، لندن.

١٢٩٥قمري کال ذوالحجه (د ١٨٧٨ میلادي کال د دسامبر ١٥).

٣٣- د تتمة البیان فی تاریخ الافغان – د خپرېدو وعده.

١٢٩٥ ق کال، ١٨٧٨ میلادي کال

٣٤- له فراماسوني سازمانه، وتل او ایستل کېدل.

د ١٢٩٦ ق کال، ١٨٧٨ میلادي ګال، ١٢٥٧ لمریز کال

د سید جمال الدین افغاني د «الحکومة الاستبدادیة» مقاله، چې د «مصر» نومې په ورځپانه کې خپره شوې ده.

د ١٢٩٦ قمري کال د صفرې ٢٣ مه، د ١٤٧٩ کال د فبروري ١٥ مه او د ١٢٥٧ لمریز کال د دلوې ٢٦ مه.

۳۵- له مصره شړل.
۱۲۹٦قمري کال د روژې ٦ (د ۱۸۷۹ میلادي کال د اګست ۲۴)
۳٦- د کراچۍ بندر ته رسېدل
د ۱۲۹٦ قمري کال روژه، د ۱۸۷۹ کال میلادي، د سپتمبر ۳ مه
۳۷- د کراچۍ په ښار کې لنډه موده بندي کېدل
د ۱۲۹٦ قمري کال روژه، د ۱۸۷۹ کال میلادي سپتمبر
۳۸- کلکتې ته تګ
۱۲۹٦ قمري کال ، ۱۸۷۹ میلادي کال.
۳۹- د حیدر آباد په دکن کې استوګنه
د ۱۲۹۷ قمري کال ربیع الثاني، د ۱۸۸۰ کال میلادي، مارچ.
۴۰- د نیچریه رسالې لیکنه
د ۱۲۹۸ قمري کال محرم الحرام، د ۱۸۸۰ میلادي کال دسامبر
- د - نیچریه - د رسالې سنګي چاپ، - د نیچري مذهب او د نیچریانو د حال بیان - د حیدر آباد دکن، هند، ۱۲۹۸ قمري او ۱۸۸۱ میلادي کال.
۴۱- حیدراباد کې د معلم شفیق په مجله کې، په فارسي ژبه د مقالو خپرول
د ۱۲۹۸ قمري کال محرم - ذوالجه، د ۱۸۸۰ میلادي کال ، دسامبر -د ۱۸۸۱ کال اکتوبر.
۴۲- د مصر د " الوقائع" په جریده کي د - العلم و تاثیره فی الارادة و الاختیار- د مقالې خپرېدل.
د ۱۲۹۸ قمري کال ذوالقعده، د ۱۸۸۱ میلادي کال، سپتمبر
۴۳- د هند پرېښودل
د ۱۳۰۰ قمري کال صفرالمظفر، د ۱۸۸۲ میلادي کال، نوامبر
۴۴- له هنده، لندن ته د سفر پر لاره، د سویس په کانال کې موقت توقف او ریاض پاشا، فکري پاشا، محمد عبد او نور ته د لیک لیکل.
د ۱۳۰۰ قمري کال صفرالمظفر، د ۱۸۸۲ کال میلادي، دسامبر
۴۵- لندن ته د سید لومړنی سفر او له بلنت سره کتنه
د ۱۳۰۰ قمري کال ربیع الاول، د ۱۸۸۳ میلادي کال، جنوري

۴۶- د همدان په اسد آباد کې، د سيد د پلار سيد صفدر مرگ
۱۳۰۱ قمري کال، ۱۸۸۳ ميلادي کال

۴۷- پاريس ته د سيد لومړنی سفر او هلته استوگنه
۱۳۰۰- ۱۳۰۲ قمري کلونه ، ۱۸۸۳- ۱۸۸۵ ميلادي کلونه

۴۸- په پاريس کې د -ابونظارة - د خپروونکي يعقوب صنوع له خوا د سيد هرکلی
د ۱۳۰۰ قمري کال د ربيع الاول لومړۍ، د ۱۸۸۳ کال ميلادي، د جنوري ۱۰

۴۹- د -ابونظاره - په جريده کې، پاريس ته د سيد د رارسيدو خبر
د ۱۳۰۰ قمري کال د ربيع الاول ۹، د ۱۸۸۳ کال ميلادي، د جنوري ۱۹

۵۰- خليل غانم له پاريسه د - البصير - په خپرېدونکې جريده کې، پاريس ته د سيد د رارسېدو خبر خپروي
د ۱۳۰۰ قمري کال د ربيع الاول ۱۵، د ۱۸۸۳ کال ميلادي، د جنوري ۲۵

۵۱- د پاريس د - ابونظاره - په نشريه کې د سيد له خوا د - الشرق و الشرقين - د ليکل شوې مقالې خپرېدل.
د ۱۳۰۰ قمري کال د ربيع الثاني لومړۍ، د ۱۸۸۳ کال ميلادي، فبروري

۵۲- په پاريس کې د العروة الوثقی خپرول
د ۱۳۰۱ قمري کال جمادی الاولی ، د ۱۸۸۳ کال ميلادي، د مارچ ۱۳ مه

۵۳- فرانسوي فيلسوف ارنست رنان ته ځواب
د ۱۳۰۰ قمري کال د رجب ۱۰، د ۱۸۸۳ ميلادي کال د مې ۱۸

۵٤- د نيچريه ژباړه او په اردو ژبه کې د هغه خپرول، د هند د کلکتې مطبعه، سيد عبد الغفار شهباز عظيم آبادي، ۱۸۸۳ ميلادي کال.

۵۵- په پاريس کې د - العروة الوثقی - د وروستۍ گڼې (اتلسمه گڼه) خپرول
د ۱۳۰۱ قمري کال ذوالحجه ، د ۱۸۸۴ ميلادي کال، اکتوبر

۵٦- په پاريس کې له پېژندل شوي ليکوال ويکتور هوگو سره کتل
۱۳۰۱قمري کال، ۱۸۸۴ ميلادي کال.

۵۷- د ولفرد بلنت په بلنه، له پاريسه لندن ته تگ، د ۱۸۸۵ ميلادي کال د جولای ۲۲ مه.

۵۸- د انگلستان د هندوستان د چارو وزیر، لارد راندولف چرچیل (د مشهور وینستون چرچیل د انگلستان د صدراعظم پلار) سره، په لندن کې کتنه او خبرې.
د ۱۸۸۵ میلادي کال د جولای ۲۳ مه

۵۹- په لندن کې دری میاشتې د ولفرد بلنت په کور کې استوگنه
د ۱۳۰۲ قمري کال اواخر، ۱۸۸۵ میلادي کال، جولای - نوامبر.

٦۰- د سید په قلم د «البابیة» لیکنه او د بیروت، په البستاني دایرة المعارف کې، د خپرېدل، ۱۸۸۴ میلادي.

٦۱- د اتریش پایتخت ویانا ته سفر
د ۱۳۰۲ قمري کال، ۱۸۸۵ میلادي کال

٦۲- استانبول ته دریم سفر
د ۱۳۰۲ قمري کال، ۱۸۸۵ میلادي کال او ۱۲٦۵ لمریز

٦۳- د «الردعلی الدهریین» تر نامه لاندې، د سید د خادم ابوتراب په مرسته، د شیخ محمد عبده له خوا په عربي ژبه د «نیچریه» ژباړه او په بیروت کې د هغه خپرول. ۱۸۸٦ میلادي کال.

٦٤- د ایران بوشهر ته تگ
د ۱۳۰۳ قمري کال شعبان، ۱۸۸٦ میلادي کال، د ۱۲٦۵ لمریز کال منی.

٦۵- په اصفهان کې د ظل السلطان مېلمه
د ۱۳۰۴ قمري کال د صفرې له ۲۲ نیټې نه، د ربیع الاول تر ۱۲ پورې

٦٦- په تهران کې استوگنه
د ۱۳۰۴ قمري کال ربیع الاول ، ۱۸۸۷ میلادي کال، ۱۲٦٦ لمریز .

٦۷- روسیې ته سفر – مسکو
د ۱۳۰۴ قمري کال شعبان، ۱۸۸۷ میلادي کال

٦۸- له حاجي محمد حسن امین الضرب سره مسکو ته رسېدل
د ۱۳۰۴ قمري کال روژه، ۱۸۸۷ میلادي کال

٦۹- د مسکو ورځپاڼې له چلوونکي، کاتکوف سره کتنه او د مسکو په جرایدو کې د سید د ژوندلیک خپرېدل.
د ۱۳۰۴ قمري کال، ۱۸۸۷ میلادي کال

۷۰- د کاتکوف مړینه
د ۱۳۰۴ قمري کال ذوالقعده ، ۱۸۸۷ میلادي کال
۷۱- په پترزبورګ کې استوګنه
د ۱۳۰۴ قمري کال، ۱۸۸۷ میلادي کال
۷۲- په مونیخ (مونشن) کې له ناصرالدین قاجار سره کتنه
د ۱۳۰٦ قمري کال ذوالحجه ، ۱۸۸۹ میلادي کال اګست
۷۳- تهران ته وروستی سفر او د حاج امین الضرب په کور کې استوګنه
د ۱۳۰۷ قمري کال ربیع الاول ، ۱۸۸۹ میلادي کال، نوامبر
۷٤- له ناصر الدین شاه قاجار سره په تهران کې کتنه
د ۱۳۰۷ قمري کال جمادي الاولی ، ۱۸۸۹ میلادي کال، دسامبر
۷۵- حضرت شاه عبد العظیم زیارت ته پناه وروړل
د ۱۳۰۷ قمري کال ذوالحجه -د ۱۳۰۸ قمری کال جمادي الاخري ، ۱۸۹۰ میلادي کال جولاي د ۱۸۹۱ میلادي کال تر جنورۍ پورې.
۷٦- له ایرانه، د ایرانیانو له خوا، په سپکاوي د سید شړل
د ۱۳۰۸ قمري کال جمادی الاولی، ۱۸۹۱ میلادي کال جنوري
۷۷- د قم ښار خوا ته خوځېدل
د ۱۳۰۸ قمري کال جمادي الاولي ، ۱۸۹۱ میلادي کال، جنوري
۷۸- سید په کرمانشاه کې
د ۱۳۰۸ قمري کال جمادي الثانیة ، ۱۸۹۱ میلادي کال، فبروري
۷۹- بغداد ته رسېدل
د ۱۳۰۸ قمري کال رجب ، ۱۸۹۱ میلادي کال، مارچ
۸۰- بصرې ته تګ
د ۱۳۰۸ قمري کال شوال، ۱۸۹۱ میلادي کال، مۍ
۸۱- لندن ته ورستی سفر
۱۳۰۹ قمری کال – د ۱۸۹۱ خزان
۸۲- په – قانون – جریده کې له میرزا ملکم خان سره همکاري
۱۳۰۹ قمری کال – د ۱۸۹۱ خزان

٨٣- په لندن کې د ضياء الخافقين د جريدې خپرول

١٣٠٩ قمري کال، رجب – د ١٨٩٢ فبروري او د ١٢٠٧ لمريز کال حوت

٨٤- د ضياء الخافقين په جريده کې د آيت الله ميرزاي شيرازي په نامه د سيد جمال الدين د ليک خپرېدل

١٣٠٩قمري کال – د ١٨٩٢ميلادي کال

٨٥- په لندن کې، له سيد سره د پروفيسور ادوارد بروان کتنه

١٣٠٩ قمري کال – د ١٨٩٢ ميلادي

٨٦- د سلطان عبدالحميد په بلنه استانبول ته سفر

١٣١٠ قمري کال صفره – د ١٨٩٢ اوړی

٨٧- د تهران په شاه عبدالعظيم زيارت کې د ناصرالدين شاه قاجار وژنه

د ١٣١٣ قمري کال د ذوالقعدې ١٧مه د جمعې ورځ، ١٨٩٦ ميلادي کال، د مې لومړۍ او ١٢٧٥ لمريز کال د ثور ١١

٨٨- په استانبول کې د سيد ناروغېدل

د ١٣١٤ قمري کال رجب، ١٨٩٦ ميلادي کال دسامبر او ١٢٧٥ لمريزکال ژمی.

٨٩- په استانبول کې د سيد مړينه

د سې شنبې ورځ د ١٣١٤ قمري کال د شوال ٥ مه، ١٨٩٧ ميلادي کال د مارچ ٩ او ١٢٧٥ لمريزکال د حوت ١٩ مه.

٩٠- په شيخلر مزار لغي کې، خاورو ته سپارلو مراسم.

د ١٣١٤ قمري کال د شوال ٥ مه، ١٨٩٧ ميلادي کال د مارچ ٩

٩١- په قاهره کې، د محمد يوسف الکريدلی له خوا، د سيد جمال الدين د مشهور اثر «تتمة البيان فی تاريخ الافغان» خپرېدل. ښاغلی الکريدلی د «العلم العثمانی» جريدې چلوونکی و.

١٣١٨ قمري کال، ١٩٠١ ميلادي کال.

٩٢- په اردو ژبه د تتمة البيان، ژباړه او د «تاريخ افغانستان» تر نامه لاندې د مولوی محمود علي له خوا، په لاهور کې خپرول. ١٣٤٢ قمري، ١٣٠٢ لمريز او ١٩٢٣ ميلادي کال.

٩٣- د امريکايي مسترچالز کراين له خوا د سيد د قبر جوړول

د ۱۳۴۵ قمري کال، ۱۹۲٦ میلادي کال او ۱۳۰۴ لمریز کال

٩٤- په کابل کې، د مولانا محمد امین خوګیاڼي له خوا د «تتمة البیان» فارسی ژباړه او خپرېدل. ۱۳۱۸ لمریز کال

٩٥- د په پاریس کی د «نیچریه» بیا راوتنه او چاپ، ۱۹۴۲ میلادي کال.

٩٦- له استانبوله، کابل ته د سید تابوت لېږدول

د ۱۳٦۴ قمري کال محرم الحرم ، ۱۹۴۴ میلادي کال دسامبر او ۱۳۲۳ لمریز کال جدي.

٩٧- په کابل پوهنتون کې د سید جمال الدین د آدکو خاورو ته سپارل

د ۱۳٦۴ قمري کال د محرم الحرم ۱۴ ، ۱۹۴۴ میلادي کال ددسامبر ۳۰ او ۱۳۲۳ لمریز کال د جدي ۹مه.

٩٨- په کابل کی د محمد سعید بریمن له خوا د «نیچریه» پښتو ژباړه او خپرېدل. ۱۳۴۴ لمریز کال.

٩٩- مصر ته د افغانستان د نومیالي فیلسوف او سترپوه افغاني سید جمال الدین د سلم کال د ورتګ د یادونې غونډه.

د۱۳۹٦ کال شعبان، د ۱۹۷٦ میلادي کال اګست، د ۱۳۵۵ لمریز کال زمری.

که څه هم د مصریانو له خوا، ۱۸۷٦ کال، مصر ته د افغاني سید جمال الدین د سلم کال د ورتګ نېټه ښودل شوې او د افغانستان د وخت ولسمشر، خدای ښښلي ښاغلی محمد داوود دغه غونډې ته (د ۱۳۵۵ لمریز کال د زمری ۲۴ نېټه) یو پیغام هم لېږلی و. دولسمشر دغه پیام د وخت د اطلاعاتو او کلتور وزیر دکتور عبد الرحیم نوین، دغونډې ګډونوالو ته واورول شو؛ خو که په دقت سره وګورو او ځیر شو، دغه نېټه، مصر ته د سید جمال الدین افغاني د ورتګ سلم کال نه , بلکې له مصره د هغه د شړلو یا (اخراج) تاریخ دی. کېدای شي مصریانو له ډېره شرمه، دغه اخراج یا د شړلو سلم کال، مصر ته د سید د ورتګ سلم کال ښودلی وي. ځکه سید د لومړي ځل لپاره په ۱۲۸٦ قمری کال او د دویم ځل لپاره په ۱۲۸۸پرقمری کال مصر ته تللی دی او پر ۱۲۹٦ قمری کال له مصره شړل شوی دی.

۱۰۰- په کابل کې د سید جمال الدین د اتیاوم تلین لمانځنه.

د ۱۳۹۷ قمري کال ربیع الثاني، ۱۹۷۷ میلادي کال مارچ او ۱۳۵۵ لمریز کال حوت.

۱۰۱- په کابل اوکنړ کې د سیدجمال الدین د یو سلو لسم تلین لمانځنه.

د ۱۴۲۸ قمري کال ربیع الثاني، د ۲۰۰۷میلادي کال مارچ او ۱۳۸۵ لمریز کال حوت.

۱۰۲- په اروپا کی د «بیدارگر عصر» لومړی چاپ او خپرونه.

د ۱۳۸٦ لمریز کال د زمری ۲۸ د ۲۰۰۷ م د اگست ۱۹

۱۰۳- په پاریس کې د یونسکو له خوا د سید جمال الدین افغاني د سیاسي فعال ژوند د ۱۵۰ کال د نمانځنې، تصویب.

۱۳۸۷ لمریز کال، ۲۰۰۸ میلادي کال.

اخځونه

١- د سید جمال الدین افغاني، مجموعه الآ ثار الکاملة، سید جمال الدین افغاني، تهیه، تنظیم او تحقیق د استاد سید هادی خسروشاهي، د دارالشروق الدولیة خپرول ـ قاهره، ٢٠٠٢ میلادي کال. په دې اثر کې:

الف: العروة الوثقی (عربي)

ب: الرسایل فی الفلسفة و العرفان (عربي)

ج: الرسایل و المقالات (عربي)

د: ضیاء الخافقین (عربي)

هه: تاریخ اجمالی ایران (فارسی)

و: تتمة البیان فی تاریخ الافغان (عربي)

ز: البیان فی الانجلیز و الافغان (عربي)

ح: نامه ها و اسناد سیاسی -تاریخی (عربي- فارسی)

ط: مجموعه رسایل و مقالات (فارسی)

ی: خاطرات الافغانی، آراء و افکار (عربي)

ک: التعلیقات علی شرح العقائد العضدیة (عربی)

٢- نسب و زادگاه سیدجمال الدین الافغانی، پوهاند عبدالحی حبیبی، موسسات انتشارت بیهقی، چاپ ١٣۵۵ خورشیدی، کابل.

٣- مجموعه اسناد و مدارک چاپ ناشده در باره سیدجمال الدین مشهور به افغانی، جمع آوارى و تنظیم، اصغر مهدوی و ایرج افشار، چاپ دانشگاه تهران، ١٣۴٢ ش ۴- گزیده آثار سیدجمال الدین افغانی، دوکتور سیدمخدوم رهین، ١٣۵۵ ش، کابل.

۵- سید جمال الدین افغانی و افغانستان، سیدقاسم رشتیا، ١٣۵۵ ش، کابل.

٦- نیچریه، اثر سید جمال الدین افغانی، ترجمه میر سعید بریمن، چاپ کابل، ۱۳۴۴ ش.

۷- نخستین کتاب در باره جنبش مشروطه خواهی در افغانستان، جلد اول، پوهاند سید سعد الدین هاشمی، سویدن، ۱۳۸۰ ش.

۸- سیری در ادبیات سده سیزدهم، محقق حسین نایل هروی، اکادمی علوم افغانستان، کابل، ۱۳٦۵ خورشیدی.

۹- تاریخ الاستاذ الامام الشیخ محمد عبده، تالیف شیخ محمد رشید رضا، چاپ اول، مطبعه المنار مصر، ۱۹۳۱ میلادی.

۱۰- تاریخ بیداری ایرانیان، ناظم الاسلام کرماني، چاپ ششم، ۱۳۸۱ ش، تهران.

۱۱- مقالات محمود طرزی در سراج الاخبار افغانیه، (۱۲۹۰- ۱۲۹۷ش) تدوین و مقدمه، دوکتور عبدالغفور روان فرهادی، انتشارات موسسه بیهقي، کابل، حوت ۱۳۵۵ ش.

۱۲- کاوه (کلکسیون کامل سالهای ۱۹۱٦ – ۱۹۲۲ م یعنی دوره قدیم و جدید) چاپ اول، ۱۳۸۴ ش. انتشارات اساطیر، تهران.

۱۳- تاریخ منظوم افغانستان در آینیه شعر، عبدالحی آرین پور ولوالجی، چاپ امریکا، اسد ۱۳۷٦ خورشیدی.

۱۴- تقویم تحلیلی هزار وپانصد ساله هجری قمری و میلادی، فردیناند روستفیلد و ادوارد مهلر، ترجمه داکتر حکیم الدین قریشی، تهران، ۱۳٦۰خورشیدی.

۱۵- CALENDARS OF MIDDLE EAST COUNTRIES تقویم.

اکادم علوم شوروي، انستیتیوت خاورشناسي، چاپ مسکو، سال ۱۹۷۹ میلادي.

۱٦- افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، میرغلامحمد غبار، چاپ کابل، موسسه بیهقي، ۱۳۴٦خورشیدی.

۱۷- مولانا ابوالکلام آزاد، شخصیت اور کارنامی، خلیق انجم، اکادمی اردو، دهلي، ۱۹۹۵ میلادي

۱۸- مآثر ابوالکلام آزاد، پروفیسور خلیق احمد نظامی، اداره ادبیات دهلي، ۱۹۹۲ م

۱۹- کی کیست در فرهنگ برونمرزی، پوهاند رسول رهین، چاپ استوکهلم، سال ۲۰۰۵ م

۲۰- Sayyid Jamal ad Din al Afghani A Political Biography, Nikki. R. Keddie
چاپ دانشگاه کالیفورنیا، امریکا ۱۹۷۲ م

۲۱- Sayyid Jamal ad Din al Afghani A Muslim Intellectual
تالیف انور معظم، چاپ دهلی جدید، ۱۹۸۳ م.

۲۲- کلیات دیوان سردار غلامحمد خان طرزی، به کوشش دکتور ننگیالی طرزی، تهران ۱۳۸۱ ش .

۲۳- د سیدجمال الدین افغان د ژوندانه هدف، سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار، کابل، ۱۳۸۵

۲۴- لغت نامه دهخدا، چاپ دوم از دوره جدید، ۱۳۷۷ ش، تهران.

۲۵- ماهنامه کابل، شماره ۱۲ حوت ۱۳۱۸ خورشیدی، چاپ کابل.

۲٦- آریانا برونمرزی، نشریه سه ماهه شورای فرهنگی افغانستان در سویدن، شماره سوم، خزان ۱۳۷۹ خورشیدی.

۲۷- ۲٦- آریانا برونمرزی، نشریه سه ماهه شورای فرهنگی افغانستان در سویدن، شماره چهارم، زمستان ۱۳۷۹ خورشیدی.

۲۸- شرح حال و آثار سیدجمال الدین اسد ابادی معروف به افغانی، مرزا لطف الله خان اسد آبادی، برلین، ایرانشهر ۱۳۰۴ ش، ۱۹۲٦ م

۲۹- افغانستان د پنج قرن اخیر، میرمحمد صدیق فرهنگ، ویرایش محمد کاظم کاظمی، چاپ نوزدهم، انتشارت عرفان، تهران، ۱۳۸۵ ش.

۳۰- د کابل کالنی، ۱۳۲۳، پښتو ټولنه، کابل.

۳۱- سیدجمال الدین اسدآبادي و بیداری مشرق زمین، استاد محمد محیط طباطبایی، نشر فرهنگ اسلامي، چاپ اول، ۱۳۷۰ ش. تهران.

انځوریزه برخه



سید جمال الدین افغاني په ترکیه کې کال ۱۳۱۳ ق. سید خپل دغه عکس خپل دوست او هېوادوال برهان الدین بلخي ته اهداء کړی.



سید جمال الدین په قاهره کې



د سید جمال الدین ځواني



سید جمال الدین په ترکیه کې، د لومړي سفر یو انځور

العروة الوثقى


د عروة الثقى جريده، لومړی مخ، لومړۍ ګڼه کال ۱۸۸۳ م - پاريس

سیری فی الفروع لکل حرف من حروف البسملة
والفاتحة ولکل سورة اجمالاً ولآیاتها ولکلماتها وحروفها
تفصیلاً دائرة مقوسة بقوسین وبرزخ جامع بینهما
وذلک لا نسع فی هذا المختصر ولا فی جمیع العالم کما قال
الله تعالی ولو کان البحر مداداً لکلمات ربی لنفد البحر
قبل ان تنفد کلمات ربی ولو جئنا بمثله مدداً ولهذا
فاکتفینا علی ما رقمنا ووقفنا عند ما قصدنا والله
یقول الحق وهو یهدی السبیل وهو حسبنا ونعم
الوکیل وصلی الله علی سیدنا محمد سید النبیین
والمرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین

کتبه عبده ... جمال الدین ... فی بلدة قندهار
فی یوم الاحد ۲ شهر ... سنة ۱۲۸۳

د سيد افغاني په لاس خطاطي شوې رساله په کال ۱۲۸۳ ق. په قندهار ښار کې

دستنوشت غزل سید جمال الدین افغانی به خامهٔ خودش



د سید فارسي غزل، د ده په خپل قلم او د ه د یادښتونو په کتابچه کې

لوحه ۴۰

هو

سید سندا امجدا

رقعه که بعبارات شیرین و فقرات رنگین در خصوص [illegible] حاصل

سمت ایشان ورنشاد نموده بودید بنظر افرض منظر عطوفت ما

بندگان ما در آمد و حقایق مندرجه موضح شد این معنی [illegible]

که چون بندگان ما مفارقت شما را بر خود دشوار میدانند

البته میخواهد که تا حیات استحاره با فیمابین جلوس نعمت

و مباعدت اتفاق افتد والا بدینوسطه که شما از طرف [illegible]

رضا میدهد و ثانیاً درصورتیکه خود شما بالطوع و رغبت قطع

مواصلت اختیار نمائید بملاحظه اینکه هرگاه حرف [illegible] لغت

درمیان آید نشود که موجب ملال خاطر محبت مرتبط ظاهر گردد اگر خیالی

اذن مرخصی داده شود هر آینه من باب اضطرار و ناچاری خواهد بود

زیاده چه نگارد فقط

تصویر ۸۹

سید جمال الدین ته د امیر محمد اعظم خان لیک

٢٨٨ ـــــــــــ سید جمال الدین

صفوة اولی الهمم و قدوة ارباب الشمم السرتیپ
الحاج احمد خان لازال مصوناً بعناية الرحمن

انی قد حللت الآن ببلدة انت ساکنها و منک بهجتها و بک سناها
فکتبت الیک هذه الوریقة زعماً منی انک بتقلبک بین اطوار الزمان
و اختبارک اجناس الانس ترغب ان تلاقی کل من دعک
الدهر و حنکه العصر و لو کان فی کن حقیر متربعاً علی حصیر
فان کان الامر کما رأیت فیا لحظی الاوفر و الا فلست باول
من غره القمر — و انی جهلاً بمحلات الاقامة فی هذه البلدة
نزلت فی خان خرب عفن لا یسکنه الا الصعالیک و الدراویش
یسمی (بکاروان سرای کربلای عوض) و السلام

جمال الدین الحسینی الافغانی

نامهٔ سید جمال الدین افغانی، به سرتیپ الحاج احمد خان،
نشر شده در جریدهٔ کاوه چاپ برلین

د سید جمال الدین لیک سرتیپ الحاج احمد خان ته چې ایرانیانو په (کاوه اخبار) کې چاپ کړی.

تذکرهٔ مرور

نمس
۱۱/۰۳۲۵

CONSULAT GÉNÉRAL
de S. M. I. le Schah de Perse
à Vienne

Signalement.
Age 50
Taille moyenne
Cheveux noirs
Barbe noire
Teint foncé
Signes particuliers
Religion musulmane
Signature du porteur

Nous Consul général de Sa Majesté Impériale le Schah de Perse à Vienne en Autriche ...

Monsieur Aga Scheikh Djemal-el-Dine ... en Russie

et de lui donner aide et protection en cas de besoin.


Le présent ... délivré à Vienne le vingt-huit ..., mille huit cent quatre-vingt-neuf

est valable pour ...

Le Consul général

گذرنامه (پاسپورت) ایرانی سید صادر شده از قونسلی ایران در ویانا

د سيد په نامه په ويانا کې صادر شوی پاسپورټ


تذکرهٔ مرور

از پاسشهبندر دولت علیهٔ ایران در مصر

نمره
اشکال
سن
قد
چشم
ابرو
ریش
سبیل


د سید په نامه په قاهره کې صادر شوی پاسپورټ



سید په مسکو کې له خپلو دوستانو سره



سید په تهران کې د ایرانیانو تر منځ




خط السیر سفرهای سید جمال الدین افغانی

د سید جمال الدین ټول سفرونه



محمد توفیق پاشا د مصر هغه پاچا چې د سید جمال الدین د اخراج حکم یې ورکړی. کال ۱۸۷۹ م



د سید مشهور مصري شاگرد شیخ محمد عبده



جرجي زیدان د سید جمال الدین دوست او د الهلال جریدې چلوونکی

فاتحه الهلال

الهلال

الجزء الاول من السنة الاولى

اول سبتمبر سنة ١٨٩٢ الموافق ١٠ صفر سنة ١٣١٠

فاتحة الهلال

لابد للمرء في ما يشرع فيه من فتحة يستهل بها وخطة يسير عليها وغاية يسعى اليها . اما فاتحتنا فحمد الله على ما أسبغ من نعمه وافاض من كرمه والتوسل اليه ان يلهمنا الصواب وفصل الخطاب .
اما خطتنا فالاخلاص في غايتنا والصدق في لهجتنا والاجتهاد في ايفاء حق خدمتنا ولا غنى لنا في ذلك عن معاضدة اصحاب الاقلام من كتبة هذا العصر في كل صقع ومصر

اما الغاية التي نرجو الوصول اليها فاقبال السواد على مطالعة ما نكتبه ورضاؤهم بما نحسبه واغضاؤهم عما نرتكبه فاذا أتيح لنا ذلك كنا قد استوفينا أجورنا فننشط لما هو اقرب الى الواجب علينا

أما موضوع مجلتنا فمقسوم الى خمسة ابواب

أولاً « باب اشهر الحوادث واعظم الرجال » فلا يخلو جزء من تاريخ حادثة شهيرة او رجل عظيم او اكثر مع ما يحتاج الى ايضاحه من الرسوم

ثانياً « باب المقالات » ويظهر في كل جزء مقالة او غير مقالة


د الهلال لومړۍ مخ او لومړۍ ګڼه کال ١٨٩٢ م. قاهره



په کابل پوهنتون کې د سید ځلی



علامه محمود طرزي



میر غلام محمد غبار



مير محمد صديق فرهنگ



پوهاند دکتور عبد الاحمد جاوید



امریکایي څېړونکې نیکي کډي




پوهاند عبدالحی حبیبي



له خپلو آثارو سره د علامه حبيبي په زړه پورې انځور



سردار غلام محمد خان طرزي



د سید په خپل لاس لیکل شوی سند دی چې ځان د افغانستان کونړ ولایت ته منسوبوي. دا سند دانشگاه تهران خپور کړی.



د سراج الاخبار افغانیه د لومړي مخ کلیشه

فضل الرحمن فاضل



ښاغلی فضل الرحمن فاضل په ۱۳۳٦ لمریز کال د بدخشان په فیض آباد کې زېږېدلی. لومړنۍ زده کړې یې همالته کړي او په کابل کې یې ابو حنیفه معهد لوستی. په ۱۳۵۷ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي ته بریالی شوی، خو یو کال وروسته، په هېواد کې کمونیستي رژیم هجرت ته مجبور کړی.

په پاکستان کې د مختلفو مجلو قلمي همکار او مسؤول پاتې شوی. په ۱۳٦۱ل کال یې د ام القری پوهنتون کې د عربي ژبې انستیتیوت له فراغت نه وروسته د عربي ژبې په طرق تدریس کې، «عمومي دېپلوم» ترلاسه کړی.

د مجاهدینو له بریا وروسته یې په کابل کې مختلفې دندې ترسره کړي، چې د انیس خپرنیزې اداري ریاست او نور ډیپلوماتیکي دندې هم په کې شاملې دي. ښاغلی فاضل اوسمهال په قاهره کې د افغانستان لوی سفیر دی.

نږدې پنځوس چاپ و ناچاپ، کتابونه یې لیکلي او ژباړلي.

لطیف بهاند



ښاغلی لطیف بهاند په ۱۳۳۱ لمریز کال کې د کابل په بریکوټ کې زېږېدلی. په کابل کې یې حبیبیه لېسه لوستې او بیا د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی لوستی.

د ۱۳۵٦ لمریز کال راهیسې یې د افغانستان د علومو اکاډمی، راډیو ټلویزون او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د استاد په توګه رسمي کارونه هم کړي دي. لطیف بهاند له هېواد نه بهر د هنري کره کتنې په برخه کې په ماسکو کې دوکتورا ترلاسه کړې. لطیف بهاند د ۲۰۰٦ کال نه را په دې خوا د افغانستان د کلتوري اتشې په توګه په مسکو کې دنده تر سره کوي.

د ښاغلي بهاند ډېر تالیفات او ژباړې چاپ شوي، مهم یې د مشهور روسي لیکوال «لېو تولستوی» مشهور ناول «سوله او جګړه» ده.